
ناول
ناروغ
مومند محمدي اڅړ
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناول

# ناروغ

لیکوال

مومند محمدي اخګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ناروغ - ناول
لیکوال: مومند محمدي اخړ
بیاکتنه: احمدشاه ویاړ
خپرندوی: اکسوس کتابپلورنځی
ډیزاین چارې: حسیب‌الرحمن
چاپځی: وایګل چاپ
چاپ کال: ۱۳۹۸ / ۲۰۱۹
پته: کابل، دریمه ناحیه د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
بیه: ۷۰ ؋

ISBN: 978-9936-653-20-7

0202 504 652, 0798 98 96 96
aksosbookstore@gmail.com
aksos book store aksosbookstore
www. aksosbookstore.af

د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

زما د زړه د تابلوګانو په نګارستان کې

د ښایسته تصویر خاوند

ابراهیم ایمان ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څو خبرې

د لوی خدای جل جلاله شکر ادا کوم چې زما کمزوري قلم ته يې په پښتو ژبه د څه ليکلو وس راکړ او د هغه پر پاک رسول درود او سلام .

ما د خيال له دېواله د يوه موسکېدلي سړي تصوير راښکته کړ، د ژوند د ښکلو او بدرنګو رنګونو پر وړاندې مې کېښــود، د خولې موســکا يې ورکه شــوه، له سترګو يې د رنګ داسې تورې ليکې راغلې لکه ژړېـــدونکې ناوې، کاغذ يې د ژوند له کړکې رانوتونکو توپانونو څو ځايه وشلاوه...

تصوير له ننداره کېدلو ووت خو د ځان د ننداري شو، زما د خيال پر دېوال د يوه تصوير ځای تش شو خو تصوير د داسې سلو ماناګانو خاوند شو چې سړی يې د ځان په اړه په تفکير کې ډوب کړ...

ما د ســړي د خولې موســکا واخيســته، هغه ته مې دردونه او کړاوونه ورکړل، د عشق په خم کې مې ډوب کړ، دومره ژړا مې ورکړه چې په سترګو کې مې ورنه د اوښکو زېرمې وچې کړې، سودايي مې کړ، لېوني مې کړ او بالاخره ناروغ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم هغه د ژوند خوندونه په دې جوارې کې بايلودل خو د ژوند د ژورو ماناګانو په داسې رموزو پوه شو چې فيلسوفان او صوفيان يې د لاسته راوړلو لپاره د ساګانو په شمېر د زندګيو قرباني ته هم تيار وو...

ناروغ فريادونه وکړل، تاسو يې اورئ؛ خو ښه مو چې په کټ کټ ورته خاندئ او که په زار زار ورته ژاړئ، خو اصلي خبره دا ده چې ناروغ زه نه يم. بلکه دا يوازې زما د خيال د دېوال يو موسکېدلی تصوير دی چې ما راښکته کړی او بيا مې دردولی دی.

که ناروغ په دې هنرمندو فريادونو کې کله بې هنره شو، نو د خپلې مهربانۍ له مخې يې وبښئ.

تاسو ته مينه!

مومند محمدي اخګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناروغ

اوس په کابل کې د سهار ۱۰:۳۷ دقیقې دي، مني د ساړه توره ایستلې ده او د ونو پر زیړي وهلو پاڼو یې ناتار دی...

هغه ورځ د ټکسي په مخکني سیټ کې ناست وم، پوخ سړک مې د سترګو مخې ته راتښتېدلو، غرونه رالنډېدل او هغه صحرا چې زموږ کلی پکې پروت دی راڅخه لېرې کېدله. د موټر له شیشې سړه هوا راننوتله او زما د غمبورو سره یې سړول.

کابل مې خوښ و، زړه مې خواږه ټکانونه کول خو کلي پاتې کېدلو. کوښښ مې وکړ وریسې خپه شم. خپه شوم خو نه پوهېدلم چې رښتیا خپه شوم او که د کلي لپاره مې د دروغجن خپګان اظهار کاوه. ځکه نه پوهېدلم چې زړه مې په یوه وخت هم خوندوره او هم بې خونده درزا کوله.

زه له کوچنیوالي همداسې یم؛ هوایي!

داسې چمونه راسره کیږي چې په ندرت پېښیدلی شي، ایا ممکنه ده چې زړه به یوه وخت کې هم خوندوره او هم بې خونده درزا وکړي؟ ښایي اروا پوهان او یا هم فلسفیان دا خبره رد کړي او طبیبان خو ښایي له سره هیڅ پرې پوه نشي، کیدای شي وکولی شم دا ډول احساس شرح کړلی شم: داسې وم لکه یو لیونی او صحرایي شاعر چې دوې معشوقې ولري، له یوې یې بېلیږي او د بلې په لور ځي! پر یوه مهال هم جدایي او هم وصال، شاعر په امتحان کې ښکېل شو، اوس به څه ډول شعر وایي؟

د کلي د هدیرې جنډې د سهار په شنه خړه او نمجنه هوا کې ځوړند سرونه ولاړې وې، داسې لکه چې کوم مئېن د لیلا پر زنګانه ویده وي او لیلا یې پرېشانه زلفې خورې تېټ سر د مخ نندراه کوي، حافظې مې دا تصویر ساتلی و ځکه کیدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول چې د کوم رسام په لاسونو یې پر کومه تابلو نقش کړي، د کلي د شنو ونو وروستی تته لیکه لکه نری وریښې لا هم نری کېدله. غرونه مې په خلونو له کلي لېدلي وو چې کوچني ښکارېدل، خو مور چې ورنېږدې کېدلو وار په وار لويېدل. نه پوهیدم نن څه ډول ورخ وه؟ نن رښتیا هم هېښوونکې پېښې کېدلې! نن مې باید بیا هم هغه لیدلې وای چې د لمرخاته وروسته نفل یې کاوه. نن مې بیا هم غوښتل چې د دعا لپاره د هغې سپین پورته شوي لاسونه ووینم. بیا مې هم باید د تل په څېر د هغې خنداني سرې شونډې او نازک وښکي لیدلي وای. دا خو زما عادت و!

خو نن هر څه د عادت خلاف وو، د شپې مې فکر کړی و چې سهار به د دوی نیلي دروازه نیمکښه شي، د سپوږمۍ په څېر سپین مخ به راښکاره شي موسکی به شي خو کیدای شي په شنه سهار زما مازدیګرنی ډالی دا وي: د خدای پامان! ان داسې هم پېښ نشول، هغه خو خبره هم نه وه چې زما د زړه پر تخت ناسته ده، ښایي څکه نه وه خبره چې د مستې ځوانی جام یې په سر اړولی مدهوشه وه. کله چې زما له سترګو د کلي دېوالونه او ونې پناه کېدل ښایي دې خپلې غټې تورې سترګې غړولې وي، ښایي زړه یې ټکانونه کړي وي، ایا چې کله یې له لمر خاته وروسته نفل څخه سلام ګرځولی وي او زه یې نه وم لیدلی حیرانه شوې به نه وي؟ خو زه دا مهال د تورو دنګو غرونو تر منځ د هغه تور ښامار پر ملا سپور وم چې درې یې یو له بله بیلې کړې وې او په کړلېچونو کې یې د موټر ټایرونو چنګ چنګ چیغې وهلې.

نور نو کلی نه و، یوازې مې په خیال کې درې تصویرونه ترې راوړي وو: هدیره، ونې او هغه.

څومره چې لېرې کېدلم د بې سبکۍ احساس مې کاوه، په درو کې زېړو او سرو ګلانو د هرکلي په دود د عقیدت سرونه ښکته کول، د غرونو په سرونو سپینو واورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپېځلتیا تظاهر کاوه، د سرو چینو ترانه د موټر په شنې شنې اواز کې تربته شوې وه، موټروان وار په وار خپل لاس په ګېر باندې ایښودلو، کله به یې مخکې کش کړ او کله وروسته چې له لرګیو د ډکو لویو لاریو څخه به مخکې کېدلو نو هغوی به په خپل قهرجن غږ داسې غوسه ښکاروله لکه په جومات کې د جمې له لمانځه وروسته چې کوم ماشوم په زینو کې له امسا په لاس سپین ږیري څخه په منډه مخکې شي او سپین ږیری له ځان سره وبنګیږي.

د وطن خوږ طبیعت پر روح ښه اغېز کوي خو پر دې سربېره مې هم داسې احساس کاوه لکه د کومې بلا منګولې مې چې پر زړه ښخېږي او څومره چې مخکې ځم همدومره پرې زور کوي، سینه مې د ګناهګار بنده د مړیستانه په څېر تنګېدله، ما الوت کاوه خو څومره چې پورته تلم وار په وار مې وزرونه په مضبوطو رسیو ترل کېدل!

په ماشومتوب کې به چې ګیله من شوم نو کرکې او خپګان به مې کړیکې وکړې، زما تر ستوني به ووتې، په چم ګاونډ کې به یې ازانګې وکړې، اوښکې به خبرې شوې، چینې به یې راوخوټولې او هر څه به یې ووینځل، لاندې به یې په لبمو لارې وکړې او په څمکه کې به د ماشوم مړي په څېر د تل لپاره ښخې شوې، مور به خبره شوه، د کتان په پلو به یې مخ راته پاک کړ او د ګرمې مینې په مچکه به یې ونازولم نو زړه به بېرته پاک او معصوم شو.

دا ځل مې احساسوله چې بل ډول خپګان دی، دا ځل کرکه نه وه ورسره مل بلکه له مینې سره یې جوړ جاړی کړی و، دا ځل دوی پټېلې وه چې پر زړه مې د غم پېټی کېږدي، دا ځل ژوند غوښتل چې په الماری کې د داسې کتاب په څېر شي چې کلونه یې هم څوک راښکته نه کړي او په سر یې نری ګرد انبار وي خو هیڅوک هم پیدا نشي چې پو یې کړي! زموږ کتابونه خو بختور دي، یا یې لولو او یا یې هم په میاشت دوو کې له سرونو دوړې پو کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاپیریانو ښار کابل ته رارسېدلی وم، دا په همدې نامه مشهور و، زه له پخوا پرې مئېن وم، ما بې له کوچنیوالي په اړه نکلونه اورېدلي وو، ما په تصور کې ځو ځو خله ترسیم کړی و، هغه دېوال مې ډېر خوښ و چې د غره په ډډ کې ختلی و او غر بې دوه ځایه کړی و. ۱۲بجې وې، لمر ته مې وکتل؛ قهرېدلی ښکارېدلو دومره چې له قهره خوټېدلو، ما خو هېڅ نه وو ورسره کړي، په کلي کې به ډېر مهربان ځلېدلو خو فکر کوم دی هم په کابل مئېن و او دا بې نشوه زغملی چې زه بې له معشوقې مچکې واخلم!

زما پر زړه نا اشنا منګولې همداسې ښخې وې، استوګنځي ته رسېدلی وم خو ضمیر مې شاهدي راکوله چې کوم څه پېښېدونکي دي، نا اشنا احساس مې په سینه کې راپورته شوی و او داسې ښکارېدله لکه زما په ستوني کې چې راتولېږي. هو، هماغه ورځ وه خو زه هماغه نه وم...

*****

بې زړه وم، فکر مې کاوه یو داسې چا ته اړتیا لرم چې ټینګ مې په غېږ کې ونیسي تر هغې چې ساه مې ارامه شي او پښې مې له لړزیدلو کرارې شي، خو څوک نه وو، یوازې مې د کوړتۍ دواړه لوري په لاسونو کې ونیول او پر ځان مې راتاو کړل، نابلده د ښوونځي پر نیلي دروازه ورننوتم، زما په فکر که پنجره یې وبولو بهتره به وي څکه چې په هندي فلمونو کې د زندانونو هغو پنجرو ته ورته وه چې کله د فلم هلک پکې بندي شي او کله هم بدماشان ورتېل وهل شي، دا بیا د فلمي پولیسو په ضمیر پورې اړه لري چې د فلم د هلک لوری نیسي او که د بدماشانو!

اسمان نیلي و ځای ځای وریځ وه خو داسې نه ښکارېدله چې په دې ورځ دې د باران وریدلو نیت هم ولري څکه چې بروني یې ښه زړه تش کړی و، ان په کوڅو او سړکونو کې لا هم اوبه ولاړې وې، زما بوټان ټول په ختو خړ شوي وو او پایڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مې هم ختې را الوتې وې، که په هغه ورځ زما پایځې چا لیدلې وای نو څکه
یې نه راپورې خندل چې په ښار کې د جوالیانو پتلونونه ان تر کوناتو پورې په
ختو ککړ وو خو دوی لا هم ژر ژر بوخت وو او بارونه یې کشول. یوازې یې په
شل افغانۍ د اوړو اته منه بورۍ په غره کې د خلکو کورونو ته خېژولې. له هغې
خوا به چې راغلل نو ملاوې به یې سپینې ککړې وې. داسې به ښکارېدله لکه
چې پرېښتو سپینه د سپېڅلتیا ټاپه ورباندې وهلې وي. ماسپښین مهال یې ډېر
په سړو اوبو د جومات نلونو ته اودسونه کول او ځانونه یې د جمې لمانځه ته
رسول خو ځینو نورو یې غوښتل چې د لمانځه پر ځای لا نورې شل او یا هم دوه
څله شل افغانۍ پیدا کړي! ښایي دوی د ډېر بار وړلو له امله ډېر څواکمن شوي
وو او له همدې امله یې ډېر ماشومان هم راوړي وو نو څکه یې ډېر څله شلو شلو
افغانیو ته اړتیا درلودله او یا هم ښایي شوم وي او غوښتل یې پر یوه شلګون بل
شلګون وراضافه کړي، په جومات کې پرېښتو د اسمان له خاورې جوړ له اجرونو
او نور څخه ډک کنډولي ګرځول او د لمونځ کوونکو پر سرونو یې اجرونه او
انوار شیندل، خو هغه جوالیان چې پاتې وو زما په اند یوازې پر ملا یې د اوړو له
بوجیو پاتې پر سپینو ګردونو بسنه کوله! حیرانوونکې وه، دوی قانع وو؟ پر یو
وخت دوی شوم هم وو او قانع هم؟ له دې یې لا هېښوونکې دا چې لمونځ
کوونکي هم حریصان وو څکه دوی غوښتل پر سرونو یې اجرونه او انوار وشیندل
شي.

د ښوونځي انګړ هم له ختو ډک و نو څکه خو زما ګامونه هم ورسره درانه وو، د
کتابونو ډک بکس مې شانته اچولی و، خام خام روان وم. داسې ښکارېدله لکه
لومړی ځل مې چې ښوونځی لیدلی وي خو داسې نه وه. یوولس کاله مې په کلي
کې ښوونځی ویلی و او کله چې ترې راتللم نو ځینې ښوونکي په دې کار غوسه
وو چې ولې یې یو لایق زده کوونکی له ښوونځي څخه ځي. خو زه په کابل مېښن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وم، په کابل کې ژوند وکړم، د پسرلي او مني بادونه يې زما انګې ښکل کړې، د اوړي له ګرمی یې د کوم پاخه چت لاندې کېنم او د ژمي واوره يې د کومې ګرمې کوټې له کړکۍ څخه ننداره کړم.

ټولګي ته ننوتم، يو سپين ږيری ښوونکی ولاړ و، د رياضي څه فارمولې يې پر تخته ليکلې وې:

- څه هلکه خپل ټولګي ته!

- استاده زه په همدې صنف کې يم

د عينکو له سره يې راوکتل او ما يې د عينکو په ذره بين کې پرېړ مخ لا هم لوی او پرېړ وليدلو، د ټولګي د زده کوونکو شمېر د اوياوو اتياوو په شاوخوا کې و.

هغه مهال مې دقيق حساب نشو کړلی ځکه چې په نازک حالت کې وم، خو دومره مې وليدل چې زده کوونکي ځينې په چوکيو ناست ځينې ولاړ او ځينو نورو يې په خاورو کې پلاټی وهلې دي، ټولو راته څېر څېر او په حيرانتيا کتل، ما هم دوی ته په حيرانتيا کتل!

دوی داسې ښکارېدل لکه د ملي بس مساپرين، څوک ناست او څوک ولاړ، زه هم دوی ته ځکه نا اشنا وم چې يو خو نوی راغلی وم او بل مې عمر کم و، اصلا خو زه بايد په اتم او يا نهم ټولګي کې وای.

ښوونکی زړه نازړه ولاړ و، چوپتيا حاکمه وه خو دې چوپتيا له څو ثانيو زيات دوام ونکړ، ځکه هغه خپله فيصله کړې وه:

- راځه!

ورننوتم، شاوخوا مې وځارله هيڅ تشه چوکۍ نه وه نو ځکه غلی غلی ولاړم او د ولاړو کسانو ترمنځ ودريدلم، ښوونکي بېرته درس پيل کړ، ما هم تختې ته کتل په توره تخته سپينو تباشيرو ګډې وډې ليکې جوړولې، ځينې به پاکې شوې ځينې به پاتې شوې، ځينې به له سره جوړې شوې، بيا به پاکې شوې دا لوبه تر ښه خنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانه وه او سپین ږیري ښوونکي چې په ډبلو عینکو کې به یې کله سترګې ټېټې ښکارېدلې او کله به یې هم پرېږ مخ. له دې لوبې خوند اخیستلو، پایځې مې هسې هم په ختو وې، زده کوونکو ځکه نه راپورې خندل چې د دوی پایځې هم په ختو وې خو د ښوونکي پایځې نه وې په ختو او سره بوټان یې هم پاک ځلېدل.

یو وخت مې پام شو چې پښې مې سستېږي، همالته مې لکه ځینې نور زده کوونکي چې له لومړي سره ناست وو په خاورو کې پلاتې ووهلې، اوس زه هم د دوی له ډلې وم، لکه د ملي بس مسافر.

ښوونکي وتلی و، زده کوونکو ما ته کتل او ما دوی ته، یوه پر چوکۍ ناست هلک چې نصواري رنګه عینکې یې په سترګو وې او سپینه دریشي یې اغوستې وه په سترګو کې وروبللم، زه هم پورته شوم، غلې مې لمن وځنډله، له کړکۍ څخه د لمر په رالوېدونکو وړانګو کې زما له لمنې لویدلې د دوړو زرې یې ستره شوې، اوپاوو یا هم اتیاوو زده کوونکو په خپلو سترګو برېنډې ولیدلې، زه ورغلم، ځای یې راته وکړ او ورسره کېناستم:

- په خیر راغلې

په شرمېدلې ښه مې ځواب ورکړ: مننه

- عمر دې کوچنی دی، څنګه په دوولسم ټولګې کې ناست یې؟

- کوچنی وم چې ښوونځي ته یې اچولی وم

- څوومه نمره وې؟

- لومړی

د څنګ ملګري ته یې مخ ورواړاوه:

- دا اول نمره و!

په ټولګې کې ګونګوسې شوې، دا اول نمره و!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو یې د یوه بل زده کوونکي په لور کتل چې ږیره یې کله او نري برېتونه یې پرېښي وو، د هغه په سترګو کې اضطراب ښکارېدلو.

بل تن راغی چې د سر اوږده ویښتان یې په منځ اړولي وو، ږیره او برېتونه دواړه یې خرېیلي وو، ځینو ورته په کرکه وکتل خو رانېږدې شو، سره نیکتایي یې هم تړلې وه:

- سلام، سترې مشې!

- منته ته سترې مشې

- زه جاوید، د پغمان یم په خیر راغلې

ما په زړه کې غوښتل چې نن هیڅوک هم غرض رانه کړي او همداسې مې یوازې پرېږدي، د دوی سره له خبرو کولو مې وېره کېدله، خو بیا مې هم خبرې کولې، ښایي د ځېرې بڼه مې الوتې او وېرېدلې ښکاریده او یا هم ښایي اطمینان پکې و خو زړه مې رښتیا هم وېرېدلو. داسې لکه له دوه کلن ماشوم ځخه چې مور ورکه شوې وي، شونډې مې ورپېدې:

- خوښ شوم

- هغه چې نري برېت یې دي زموږ د ټولګي اول نمره دی!

تازه پوه شوم چې ولې هغه هلک مضطرب و، هېښوونکې وه، هغه له ما وېرېدلی و په داسې حال کې چې زه له دوی ټولو وېرېدلم، جاوید بېرته خپل ځای ته تللی و او د ځنګ له ملګري سره یې په خندا خندا خبرې کولې، په ناز او انداز یې لاسونه اچول او له خبرو سره یې ځنې نخولې، کله به یې که سترګو ته ویښته مخامخ شول نو بېرته به یې په لاس د غوږ شاته راټول کړل، د ځنګ ملګري راته وویل:

- دا د اتڼ په ګروپ کې دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما څه ونه ویل، ومې غوښتل نور د چا راپام نشي او مجبور نشم چې خبرې وکړم نو ځکه مې کتاب راواخیست، کرښې مې یې لیدلې خو لوستلی مې نشوې، ستونی مې راډک و، داسې احساس مې کاوه لکه نا اشنا منګولې مې چې پر ستوني ښخې وي او ورو ورو یې ټینګوي!

خیالونو د کلي هدیرې، ونو او د هغې مخ ته وړی وم.

ښوونځی رخصت شوی و، زه لا هم په ټولګي کې ناست وم، وروستی زده کوونکی وتلو، غږ یې کړ:

- راځه کنه، رخصتي شوه!

*****

هغه سهار مې چې سترګې پرانیستې نو لمونځ قضا شوی و، د لمر وړانګې له کړکۍ رانوتلې وې او زما پر تندي ځلېدلې، داسې ایسېده لکه زما له خوی سره چې بلد شوي وي، یو څه انس یې پیدا کړی و او د پخوا په شان غوسه نه و خو لا یې هم سور مخ خوټېدلو، د ښوونځي راباندې ناوخته شوی و، ژر ژر مې مخ او لاس ووینځل، په منډه مې جامې بدلې کړې، بکس مې تر غاړې کړ او د ښوونځي په لور مې هې کړل...

اوږده موده ناست وم او ښوونکی نه و راغلی، لاسي ګړی ته مې وکتل، د سهار ۱۰:۳۷ دقیقې وې، په خپله چوکۍ کې تنګ شوی وم ځکه تر څنګ مې یو غټ هلک کېناستلو چې ان د کوناټي یوه برخه به یې زما پر چوکۍ ایښې وه، هغه وخت زه ډنګر پنګر وم او د هغه سهارنۍ تورې خړې له سفر وروسته لا هم نرۍ شوی وم، ان زړه مې هم نری شوی و.

پورته شوم او د یوه بل ټولګیوال پر چوکۍ کېناستم، عابد نومیدلو، پر ما یې پام کاوه او لکه زما د زړه ساتونکی و، په کتابچه کې یې څه سوالونه او ځوابونه لیکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. نور يې همداسې قلم ورباندې ايښی و او بهر وتلی و. کله چې راننوت نو زه يې پر خپل ځای ناست وليدلم ځکه خو دی هم په مخکني کتار کې له بل تن سره کېناست، د خوب او ستړيا احساس مې کاوه، سر مې پر مېز کېښود خو د شعر ښاپيرۍ مې غوږونه وتخنول، پر کتابچه ايښی قلم مې راواخيست. يو غزل مې وليکلو، د خپل زړه په اړه و، ټول له شکايته ډک و...

عابد راته ځير و، کاغذ يې ورکش کړ او غزل يې ولوست:

- هننننن... اوس پوه شوم چې ولې داسې يې!

ښوونکی راغی، د ټولګي نماينده د عسکري پرېډ د صاحب منصبانو په څېر په زوره غږ کړ:

- ولاړ سئ!!!

ټول ترپ ترپ پورته شوو، ښوونکي غاړه صفا کړه او سلام يې واچاوه، درس پيل شو، ښوونکی غږېدلو زه هم پرې پوهېدلم، ښايي د زړه براس مې له غزل سره وتلی و. شعر داسې يار دی چې خپل ټول غمونه پرې اچولی شې هغه اوړه ورکوي نو ايله د سړي زړه سپک شي، ښوونکي پر تخته ليکل، ما هم کتل، ښه خندې مې کتل خو شېبه په شېبه ليکل تياره کېدل، سر مې درنډېدلو او زړه مې په راجګېدلو شو، مخ مې ګرم شو، احساس مې کړه چې لاسونه مې سړېږي، قلم مې له لاسه په ښوېېدلو شو، په ړڼو ړڼو مې شاوخوا وکتل، ورو ورو تياره کېدله، د پورته کېدلو کوښښ مې وکړ، زده کوونکي د سيورو په څېر راته ښکارېدل، تياره زياتېدله هر څه يې ونيول، تپه تياره شوه او تياره هم داسې ورکه شوه لکه ډيوه چې څوک پو کړي او رڼا ورکه شي.

*****

پر مخ مې لاس راکش کړ، لوند راته ښکاره شو، سترګې مې پرانيستلې، عابد په زوره زوره خوځولم او نارې يې راته وهلې، سر مې د ښوونکي په غېږ کې و، زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي ټول شاوخوا ولاړ وو، يو بل ته يې خولې ورکړې کړې وې، غوږونه مې ورو ورو رڼا کېدل او د دوی دا خبرې مې اورېدلې:

- څه ورباندې وشول؟

- دی ولې داسې دی؟

چې ښه په سد شوم نو د ښوونکي سپينه ږيره او د عابد وارخطا مخ مې روښانه وليدل، کېناستم، زده کوونکو اوږه راکړه او چوکۍ ته يې پورته کړم، خوله مې وچه وه، زړه مې په زوره زوره درزېدلو او پښې مې رېږديدلې، د ټولګي نماينده د اوبو ګيلاس په شونډو راته کېښود، ما هم غټ غټ غوړپونه ترې وکړل داسې لکه تې خوری ماشوم چې د مور په تي پورې ونښلي، اندېښمن ښوونکي مې لاسونه په لاسونو کې ونيول:

- بچيه ته ښه يې؟

هيڅ مې نشول ويلی، ورو ورو راپه سبک شوم، يوه ويل:

- رنګ يې تک ژېړ دی او رېږدي، ته ورته وګوره لکه خزان وهلې پاڼه!

عابد وويل: کور ته ځې؟

د هو په موخه مې سر وخوځاوه، شونډې مې ګنډلې وې، اوږه يې راکړه او ورو ورو ورسره روان شوم، بهر چې راووتلو نو سا مې يو څه وغړېده، عابد مخ راواړاوه:

- په بايسکل کېناستلی شې؟

- هو، ښه يم

خپل بايسکل ته يې منډې کړې، زه هم ورو ورو پسې روان وم، بېرته راغی، شاته يې پر کونجاغه کېناستم بايسکل يې روان کړ، بکس راپسې ځړېده...

تازه مې ځان ته پام شو: په ما څه شوي وو؟ ايا په هغې پسې خپه شوی وم، ايا خپګان پر ما دومره زورور شوی و چې زه يې بې خوده کړم؟ ايا لمر ښېرې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وې؟ هغه خو اوس له ما سره تازه ملګرې کېدلو هم. ايا کابل له نظره کړې وم؟
ساړه ریږدولم او مور مې کمپله راباندې واچوله. لاس يې تر زنې لاندې کړ او انديښمنه مې خوا ته کېناسته. ومې ويل:
- سهار مې څه شی نه وو خوړلي ځکه داسې شوم
تر خولې يې سوړ نه ختلو.
تازه څو شېبې نا اشنا منګولې زما له زړه او ستوني لېرې شوې وې. ارامه ساه مې اخيستله او زړه مې هم ښه په خوند خوند درزا کوله داسې لکه د نيلي اسمان له مخه چې تکې تورې وريځې لېرې شي او ښايسته مخ يې ښکاره شي.

*****

يو مرموز قوت مې هڅوي چې ډېرې خبرې وکړم. زه غواړم چوپ پاتې شم خو دا خواک مې داسې تېل وهي لکه کوم يتيم چې د ظالم لاسونو ته لويدلی وي. غواړي د محتسب په څېر اقرار راڅخه واخلي او هر څه ووايم. دا احساس مرموز اپين راکوي تر څو ټول هغه څه چې په سينه کې مې د خزانو په څېر پټ ساتلي دي د لوړې غونډۍ پر سر کيږدم او ټول خلک يې ننداره وکړي.
دا څواک داسې احساس راکوي چې ګويا غواړم نارې کړم. داسې چې د يوه لوړ کمره پر ژۍ ودرېږم چې لاندې يې نيلي سمندر څپې وهي. په زوره زوره چيغې کړم چې په سينه کې پټې خبرې مې په يوه چيغه کې بې له تورو او کلماتو راووځي. داسې يوه چيغه چې ټول ليونيان يې په ريښتينې مانا پوه شي خو هيڅ فلسفي يې تر ابده هم مفهوم بيا نه موندی شي!
دا ناکرارې مې نيمه شپه راپاڅوي. هيڅ کوم مخاطب نه وي خو زما د زړه خبرې غواړي هوا وکړي. اسمانونو ته پورته شي او د يوه نا اشنا مخاطب په لوري په اوو پردو کې دننه ولاړې شي. که ورځ شي او مخاطب پيدا شي نو لکه ترهيدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سويې؛ ټولې خبرې بېرته په سينه کې پټې شي، د راختلو لپاره يې غږ ورک شي، ژبه پر ځاى ودرېږي، خوله وچه شي، زړه په زوره زوره ودرزيږي، نا اشنا منګولې مې پر ستوني ټينګې شي او ټولې خبرې ترېټې شي.

بيا هم شپه شي، سر پر بالښت کېږدم، مرموز څواک مې نا اشنا منګولې د ځوښيو لپاره له ستوني لېرې کړي، خبرې لکه د اوربلکو سېل شي، په الوتلو شي، دومره توري والوزي چې پېريان يې هم حساب نشي کولى، ځي ځي او په اسمان کې ستوري شي زه بې دريغه لاسونه پسې اچوم يوازې يو څو پکې راونيسم، د فکر بنديوان يې کړم، پورته شم، ډېوه بله کړم، قلم او کاغذ راواخلم، يوه تکه سپينه لمن له تورو داغونو ډکه شي ، خو دا هغسې نه وي بلکه لکه مروړلي پتنګان داسې شوي وي، دا دومره ښايسته نه وي لکه الوتلي پتنګان او نه هم دومره مست وي ځکه خو ډېر مظلوم وي دومره چې ښايي د لوستلو هم نه وي.

زه له نا اشنا مخاطب سره ګرېږم، داسې احساسوم لکه زما ضمير ته چې دننه ننوتلى وي، جګړه ورسره کوم، سوله ورسره کوم، فلسفې ورسره غږوم، لمونځ ورسره کوم...

هغه مازديګر مې ډېره ياده شوې وه، د مازديګر انځور هسې هم غمجن وي، د ښاپېريانو په نړۍ کې يې د جدايي د سفير په نامه يادوي ځکه هره ورځ چې لمر ډوب شي نو بايد يو ښاپېرى مړ شي، اروا يې والوځي او سبا د لمر په څېره کې راوخيږي، خو کله چې څوک مکې ته روان شي او د شپې په ۱۰:۳۷ دقيقو ورسېږي نو سهار داسې ورته ښکاري لکه مازديګر مهال چې لمر بېرته راخيږي، داسې لکه مرور يار چې له پناه کېدلو وروسته بېرته پېښمان شي او د يار غېږې ته راستون شي، مټې يې سينې ته راجوخت کړي، د دواړو اوښکې سره ګډې شي او دواړه بارخوګان لانده شي، بيا په ژړا ژړا کې يو بل ته وخاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د مکې مازدیگر بیا داسې ښکاري لکه زېړ سهار، ښايي دا د بیا خلې ژوندانه د ثبوت لپاره یو رمز وي، داسې رمز چې ډېر ساده حاجیان پرې نه پوهیږي، بلکه یوازې هغه حاجیان پرې پوهیدلی شي چې بیگانې یې زړونه د زم زم په اوبو مینځلي وي.

خو هغه مازدیگر لمر نه و او د هغې ورځې د سهار له ۱۰:۳۷دقیقو راپدېخوا وریځو پټ کړی و، د مکې له لوري تونډ باد را الوتی و، خو وریځې د برستنې غونډې درنې وې، دومره درنې چې زما زړه یې لا هم ویرجن کړی و، د هغې غتې سترگې، زېړ مخ او موسکانه خولگی مې یادېدله، د هغه توپان له امله مرغان هم نه شول الوتلی خو زما زړه د سینې په پنجره کې دومره تنگ شوی و چې نور یې رښتیا غوښتل دا زندان مات کړي او د هغې په لوري والوزي، سر یې د سینې په پنجرو په زوره زوره واهه او راته ویل یې: د خدای لپاره وزرونه وکړه او د یو ځل لیدلو لپاره یې والوزه!

هغه مهال مې دومره مینه کړې وه چې ان نېږدې وه کرکه ترې وکړم، په اپارتمان کې زموږ د کور په نیلي رنگ له رنگ شوې کړکۍ څخه مې بهر کتل، پورته درنې تورې وریځې او بلاک ته مخامخ د سړک پر پورې غاړه د گاونډي د کور بام؛ د بام پر سر یې د تلویزیون هغه انتن چې تل به نسکوریدلو یو ځل بیا نسکور شوی و.

هغه مازدیگر مې له هغې سره جگړه وکړه، داسې جگړه لکه یو بې زړه ته چې څوک له کوره بهر پر مخ بې رحمه او درنه څپېړه ورکړي درد غوټه کړي، پټ یې کړي او کورته راشي، په یوه کونج کې خپه کېني د درد غوټه خلاصه کړي او بیا په تصور کې هماغسې څپېړه له کوره بهر هماغه ظالم ته ورکړي، داسې لکه د گودر پر غاړه چې یوه مسته او کاسیره ښځه د یوه ماشوم سره د اوبو پر نوبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه وکړي او ماشوم د بې وسی له امله خپله کوزه په لغته ووهي او ډکه کوزه يې پرمخې واوړي!

هغه مازديګر مې هغې ته ويل چې زما له زړه نه ووځه، ما مه کړوه، ما ته غم مه راکوه، لکه څرنګه چې ته د لمر خاته پر مهال ښې او کيڼ لوري ته سلام ګرځوې او له نفل سره وداع کوې همداسې سلام وګرځوه او زما له خيالونو سره وداع وکړه.

ما داسې پرېږده لکه چې زاهده پيغله خپل کټ پرېږدي، د اوداسه لپاره کوزه ورسره واخلي، مخ لاس وکړي، په تياره شپه کې يې سپينې ليچې ستوري ووينې، په مصلا ودرېږي او مخ د مکې په لوري کړي!

داسې مې پرېږده لکه مئينه پيغله چې خپل کټ پرېږدي په کنډو واوړي، جامې يې په خاورو خړې شي خو خړې جامې يې تيارې به خپله پرده کې پټې کړي او د مئين تودې غېږې ته ورشي!

هغه مازديګر مې غوښتل چې وژاړم خو سترګې مې دومره شومې وې لکه د هماغې ورځې اسمان چې هيڅ څاڅکي يې نه ورول.

په کابل کې د غره د ډډې دېوال همداسې دنګ ولاړ و او توپان ورسره خپل سر جنګاوه، لکه پېرۍ پېرۍ يې چې همداسې کړي وو خو دا دېوال يې سپر ټټر په مخکې ولاړ و.

ما دوه لارې درلودلې؛ يوه دا چې له دېوال سره خپل سر ووهم او بله دا چې د دېوال په څېر ودرېږم او توپانونو ته خپل ټټر سپر کړم.

ماښام شوی و، وريخ همداسې توره وه، د نېږدې جومات لاسپيکر خراب و او سپين ږيري موذن د شيطان تښتولو لپاره په کمزوري غږ اذان کاوه، ښايي د يوې سجدې سره مې تندی يخ شوی وای او د سينې د سمندر توپان مې درېدلی وای.

دا هغه مروړلي پتنګان دي چې د شپې په ۱۰:۳۷دقيقو يې له سبل څخه رانيسم، تر هغې چې د خوبونو په سين کې لاهو شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

هغه ماسخوتن هم سړه هوا چلېده، د ډېرو پيغلو له تېرېدونکو اوربلونو سره يې لوبې کولې او نخول يې، د اسمان ستوري هم صفا ځلېدل، زه د بلاک سر ته پورته شوی وم او پښې مې لاندې ځړولې وې، د اووه منزله ودانۍ لاندې دريدلې سوپ خرڅوونکي خپل لوښي ټولول او کراچې يې روانوله. لاندې به يو نيم تېرېدونکي موټر نري جمپ ته بريک ونيولو او چې کله به يې ټايرونه پرې اوښتل نو څراغونو به يې خولې اسمان ته پورته کړې او د ستورو په لور به يې نارې کړې.
ما په کوړتي کې ځان پيچلی و، قلم او کاغذ په لاس کې راسره وو ځکه زه پوهېدلم چې د غزل الهام راته کيږي، ما غوښتل خپل دردونه يو ځل بيا د غزل پر سر واچوم، زه يې سترې کړی وم او پروا مې نه کوله چې غزل به يې له لاسه سترې او يا هم ليونی شي.
دوه بيتونه مې وليکل، ګوتې مې سړې شوې لاسونه مې سره وموښل، کوه کوه مې کړل او په کوړتي مې ننباسل، فکر مې کاوه چې د پوزې سر مې سوربخن شوی دی، شاته مې وکتل شل ګامه لېرې يو خوځېدونکی سيوری ولاړ و، له جيبه مې لاسي څراغ راوويست په هماغه لوري مې روښانه کړ، ژر مې ګل کړ او مخ مې بېرته راوګرځاوه، زموږ ګاونډۍ پيغله ولاړه وه، خوله يې ګنډلې وه او هېڅ يې نه ويل، يوازې يې له څراغ ځخه سترګې پټې کړې خو ما څراغ ګل کړی و او نه پوهيدم چې لا يې هم سترګې پټې دي او که نه، د نجلۍ نوم مې نه و زده خو څو ځله مې له زينو ځخه د ښکته کېدلو او پورته کېدلو پر مهال ليدلې وه، غونډه منډه د ځېرۍ غوندې ونه، سره باړخوګان، نيلي سترګې، زېړ ته مايل بانه او ويښتان يې وو. ما ته يې خو ځله راکتلي وو، موسکې شوې وه، بېرته يې سترګې ښکته اچولې وې او په منډه مې له خوا تښتېدلې وه خو خدايزده نن مې څنګه شاته غلې ولاړه وه، ښايي د دې په زړه کې هم ډېرې خبرې وې چې غوښتل يې ما ته يې وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له دې هم توري تښتيدلي وو او ژبه يې وچه وه، همداسې ولاړه وه، يا خو ډېره زړوره وه او يا يې هم له ښنو سبک تللی و. ما اوريدلي وو چې د هغې په اړه يې ويل: د دې نجلۍ ښايسته هلکان خوښيږي!

زه نه پوهيدم چې دې له ما سره مينه درلودله او که د هوس په دامونو کې د ښتې مرغۍ په څېر زما تر دياره رارسېدلې وه، ما اوريدلي وو چې د دې په اړه يې ويل: د ۱۰م بلاک ۳۷م اپارتمان هلک د دې شونډې ښکل کړې وې!

د هغې په نيلي سترګو کې د هر چا لپاره مينه پرته وه، تر دې چې غوښتل يې د هر ښايسته هلک خولګۍ واخلي، دا ناروغه وه، دا نشه يي وه څکه چې غوښتل يې د ښايسته هلکانو شونډې ښکل کړي، خو لا هم زما شاته ولاړه وه. څو ورځې پخوا چې زه د بام سر ته راختلی وم نو د بام پر ژۍ د خاورو ډک نکلي لوښی ايښی و، زه نېږدې ورغلم، يو چا غږ راته وکړ: دې ته ګوتې مه وروړه دا د نيلي سترګې نجلۍ دی! زه نه پوهېدلم چې دا يې ولې هلته ايښی و. يوه ورځ يې مور ويل: دا پېرياني ده او پېريان لري، ان يوه ورځ چې کله پر زينو راختلم نو د بندې دروازې تر شا مې سوې کريږې واوريدلې، د پورتني منزل يوې کوچنۍ نجلۍ چې د نانوايۍ درې ډوډۍ ورسره وې او پر زينو ختله، ويې ويل: پر نيلي سترګې نجلۍ بيا پېريان راغلي.

زما په خيال دې يوې پناه ته اړتيا درلودله، دې ته تر ټولو ډاډمن ځای د ښايسته هلکانو غېږه ښکارېدله، نو څکه يې وار په وار ورته پناه وړې وه او اوس په دې تياره ماسخوتن چې ستورو له يو بل سره د سترګکونو زوروره سيالي روانه کړې وه هغه بېنوا زما شا ته ولاړه وه، ښايي زه يې خپل وروستی پناه ځای بللم. هغه نه وه خبره چې زما خپل د زړه محل هم وران شوی دی، هغه نه پوهيدله چې زه پخپله هم يوې پناه ته اړتيا لرم، څکه زه د دردونو په داسې ميدان کې ولاړ وم چې د هغوی مستو آسونو له هر لوري ټپل وهلم، تيندکونه مې خوړل او بېرته پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدلم. زما د غټو سترګو زېږ حسن یادیدلو، وختونه کېدل چې هغه مې د لمرخاته له نفل څخه وروسته پر سلام ګرځولو نه وه لېدلې، هغه زما د ژوند اوبه وې، هغې زما د زړه بوټي پنه کول، وختونه شوي وو چې سینه مې د سوې صحرا په څېر وه، بوټي یې وچ شوي وو، سره شوي وو، اور یې اخیستی و او هره شیبه یې لوګي زما تر خولې ختل. ما غوښتل هغې ته ووایم چې زه نشم کولی چا ته پناه ورکړم، ما غوښتل ورته ووایم: راشه زما پر سینه دې خپل سره غمبوري کېږده، وګوره چې څومره توده ده، ما غوښتل چې په لمبو کې زما د سوځېدونکي زړه د تېرېدلو او کرېږو غږ واوري، که هغې غوښتلی چې زما وچې او سپېرې شونډې ښکل کړي نو اجازه به مې نه وای ورکړې ځکه ما نه غوښتل چې په دردونو دا ککړې شونډې دې یوه بې اسرې پېریانۍ پېغله چې ښایسته هلکان یې خوښېږي ښکل کړي!

کاغذ ته مې وکتل، تیاره وه نه ښکارېدلو، خو ما پرې قلم خوځولی و. لاسي څراغ مې روښانه کړ بیا مې ژر بېرته ګل کړ، شپږ بیته غزل مې لیکلی و او پر نازکو تورو مې خپل درانه درانه غمونه بار کړي وو، زه رښتیا هم ظالم وم. مخ مې راواړاوه، غوښتل مې ویې پوښتم چې ایا ما ته یې پناه راوړې؟ څراغ مې روښانه کړ بیا مې ژر بېرته ګل کړ خو هغه تللې وه، ښایي وروستی هیله یې هم نړېدلې وه او د کوم بیابان په لټه د هیلو له ښاره وتلې وه، خو بیا مې څراغ روښانه نه کړ او ومې نه لیدل چې ایا پلونه یې همالته پاتې وو او که هغه هم ورسره تللي وو.

په لېرې فاصله کې د ودونو د یوه هوټل رنګه څراغونه ښکارېدل چې کله به ګل شول او کله بل، دا د دوو زړونو د پیوند په خوښۍ کې نڅېدل، زه هم تللم، که چېرې د نیلي سترګې نجلۍ پلونه همالته پاتې وي نو زما پلونه هم ورسره پاتې شوي وو، او که نه ما خپل پلونه یوازې پرېښي وو، ما احساسوله چې که په هېنداره کې وګورم نو د پوزې سر به مې لا هم تک سور شوی وي.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې شپه مې خوب الوتلی و، په ۱۰:۳۷ دقیقو چې په بستره غځېدلم نو زړه نازړه وم، له دې څو شپې وړاندې مې مور راغلې وه او کیسې یې راسره کولې نه مې غوښتل چې ولاړه شي، زړه مې ورته ویل چې ټوله شپه راسره کېنه، راته وغږېږه ځکه چې له تا پرته په ټوله نړۍ کې سکون نشته، ستا خبرې زما اروا ته ارامي وربښي خو هغې هم زما د زړه خبره نه وه اوریدلې. زه پوهېږم که زما د زړه غږ یې اوریدلی وای نو ټوله شپه به یې راسره په ویښه تېره کړې وای، په ویښتانو کې به یې راته مهربانه ګوتې وهلې او خوږو کیسو به یې زما د غوږونو د سازونو پردې خوځولې چې اهتزاز به یې زما تر زړه رسېدلی.

فکر کوم د نیلي سترګو خاونده نجلۍ به هم هغه شپه خوب نه وي وړې، کیدای شي د هغې په کمڅو کې هم مور ګوتې نه وي وهلي او همداسې ارمانجنه پاتې شوې وي، آه! دا ډېره جفاکاره دنیا ده، په یوه شېبه کې د خوبونو دنګې ماڼۍ پر ځمکه رانسکورې کړي او سرې بې پناه پاتې شي، دا ظالمه دنیاګۍ نه پوهیږي چې دا ماڼۍ د زړه په وینو جوړې شوې وي او بیا پرې انسان د خپل زړه ټولې مراندې وتړي.

زما د زړه هوسۍ نن زما د خیالونو پر ډېره مېلمنه شوې وه، یو په بل پسې یې خپل تصویرونه زما سترګو ته نیول، په نریو شونډو به یې موسکل او سپین غاښونه یې چې له جنتي ډېرو جوړ وو ښکاره کېدل، دې به د نړۍ تر ټولو ښکلې منظره جوړه کړه؛ غر، ځنګل، ګورګورې، ابشار او ګلونه ورته نن شپه هیڅ هم نه وو، هغې د تیارو پردې شلولې او زما تر سترګو یې ځان رارسولی و، ما ته یې ویلي وو چې زه یې هم یادېږم، راپسې خپه شوې ده او هر سهار چې د لمرخاته له نفل څخه سلام اړوي نو زه نه یم چې موسکي ورته وګورم، ما ته یې ویلي وو چې له ما پرته د کلي ټول تصویرونه ورته پیکه دي، راته ویلي یې وو چې د کلي ونې په لغړېدلو دي او د هدیرې جنډې هم نیمې نیمې څېرې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې تور پړوني نن شپه د مشکو خوشبويي شيندلې، تر ډېره يې کيسې راسره کولې خو ما ورو ورو احساسوله چې نا اشنا منګولې مې يو ځل بيا پر ستوني ټينګيږي، سترګې مې پرانيستلې، هغه تللې وه هيڅ تصوير يې نه و پريښې، ساه مې نشوه اخيستلی، زړه مې په زوره زوره درزيدلو، راکښاستلم او کمپله مې لېرې وغورځوله، په غوږونو کې مې چنګ چنګ غږونه تلل راتلل، فکر مې کاوه چې سترګې مې له کاسو بهر راوتلې دي، تياره کوټه راته له بلاګانو ډکه ښکارېدله او داسې انګېرل کيده چې زما د وژلو لپاره ورو ورو رانېږدې کيږي، تيارو دښمني راسره اخيستې وه، ان د بلاګانو ويروونکې سترګې يې راته انځورولې، غوښتل مې کريږې ګډې کړم خو غږ مې په ستوني کې نښتی و، پورته شوم او په ټېريدلو ګامونو ولاړم، د اوبو جک مې د مېز له سره چپه کړ، پر دېوال مې لاس وواهه او ګروپ مې روښانه کړ، توخې مې پيل کړ او بېرته بې سبکه پر کټ کېناستم، جک پر يوه څنګ پروت و او اوبو يې د نامالوم مالت نقشه کاږلې وه، ګيله من شوم، ومې ژړل او اوښکو مې پر باړخوګانو لارې وکړې، ډېره موده وروسته مې ژړلي وو، سلګۍ مې پورته شوې او خوله مې په دواړو لاسونو پټه کړې وه، پښې مې لړزيدلې، له بالښت څخه مې بد راغلي وو او نه مې غوښتل چې بيا هم سر پرې کېږدم، ښه ساعت مې ژړلي وو او بيا غلې شوی وم، اوښکې مې ورو ورو پر باړخوګانو وچيدلې، پورته شوم خو ځمکه راباندې ګرځېدله، تشناب ته ولاړم او مخ ته مې ځو لپې اوبه واچولې، په هېنداره کې مې ځان ته وکتل، پوه شوم چې که نور مې ژړلي وای نو له سترګو به مې د اوښکو پر ځای وينې راڅڅېدلې وای، بېرته راغلم، کېناستم او پر تندي مې لاس کېښود سور راته وايسيدلو، يا خو به تبه وه او يا به هم د هغې د مينې اور و چې زما په سينه کې ژبغړاند و او زما د تندي تبې يې سره کړې وه، اوږده ساعتونه په ناستې ناست وم، د دېوالي ګړۍ ټک ټک غږ راتللو خو فکر مې کاوه چې د هغې د ستنو پښې هم سستې شوې دي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره خواري ټوټونه وهي. خکه همداسې شپه وه او د سهار د راتللو خبر هيڅ نه و، چې په ما يې ښه لګون تېر کړ نو د سهار څېره رابرسېره شوه. هغه شپه دومره کمزورې شوی وم چې د سهارني نسيم په يوه څپه غورځېدلم. له لېرې مې د يوه اذان غږ تر غوږ شو. ورو ورو اذانونه ډېر شول خو ما سر کړار پر بالښت ايښی و. نور نه يم پوه شوی او چې سترګې مې پرانيستې بيا هم د لمر وړانګو زما پر مخ لوبې کولې. لمونځ مې قضا کړی و او بيا هم ډېرې سجدې پورېوړی شوی وم. هغه ورځ په ښوونځي کې هلکانو راته ويل: نن دې سترګې ډېرې سرې دي، نه دې تندی رادېخوا کړه چې تبه خو دې نه ده؟

*****

په کابل کې د غره په ډډه کې پورته تللی دېوال له لېرې د تورې ليکې په څېر ښکارېدلو. خکه ټول غر په واورو کې پټ و خو يوازې د دېوال ډډې وې چې واورې نه وې ورختلې خو پر سر يې واورې خکه پرتې وې چې خلکو ته وښيي نور دا دېوال بوډا شوی دی او د توپانونو مقابله نشي کولی. دېوال خاموش و او د منې د راتګ انتظار يې کاوه تر څو واورو ته وښيي چې لا هم د توپانونو مقابله کولی شي. خکه سلګونه کلونه يې ان د تورو، تبرونو، غشو او نېزو په مخ کې تېر سپر کړي و. خو دا خبره هم ښکاره وه چې کله دېوال په منې کې توپانونو ته خپل تېر مخکې کړي نو واورې به لکه د نرګس ګلونه مړې شوې وي او د خاورو لاندې به يې جسدونه اوبه اوبه شوي وي.

زما ليکلي غزلونه هم زيات شوي وو، زېړه کوچنۍ کتابچه مې نيمه ترې ډکه کړې وه. په لاس کې به مې چې واخيستله دومره درنه نه وه. له دې څخه ما ته دا ښکاره شوه چې غزلونه زما په څېر ظالم نه دي، خپل دردونه يې پر کتابچه نه دي انبار کړي او لا يې هم په خپلو سرونو وړي. ډېر پخوا يوه شاعر چا ته ويلي وو چې غزلونه به تر ابده خپلې خوښۍ او غمونه همداسې په خپل سر ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به چې له کوره بهر وتلم نو وېرېدلم چې هسې نه نسکور شم، ما مې مور ته ویلي وو چې کله زه بهر ووځم او په کوڅه کې قدم وهم نو ما ته دې له کړکۍ ګوري څکه هسې نه پښې مې سستې شي او ولوېږم، که داسې وشول نو پخوا له دې چې خلک راباندې راټول شي دا دې خان راورسوي او ما دې پورته کړي لکه څرنګه يې چې په کوچنيوالي کې زه له لويدلو وروسته بېرته پورته کولم. ان ما نه غوښتل چې له مور پرته مې ورونه هم رانږدې شي او ما پورته کړي، زه شرمېدلم چې زه دې په کوڅه کې پړمخې لويدلی وم. پردي خلک دې راباندې راټول شي او بیا له یو بل سره پسپسکي وکړي؛ د خلکو عادتونه ډېر خراب دي، ډول ډول خبرې کوي، څوک به وايي: دا ميرګي لري. خيرن بوټ يې پوزې ته ونيسئ! بل به وايي چې نه نه: د دې معدې ګيس نيولی دی. شا ته يې څو څپېړې ورکړی نو ښه به شي. بل به وايي: چې کمزوری شوی دی، په سر او مخ يې اوبه تويې کړئ! بل به يو څه وايي او بل هم بل څه. بهر به چې ووتلم نو دومره لاره به تللم چې د مور له سترګو پناه نشم او بيا به بېرته راګرځېدلم خو د مور د نظر تکيه دومره زوروره وه چې هره ورځ په دې دومره تګ او راتګ کې يوه ورځ هم نسکور نشوم.

ډاکټران هم خراب عادتونه لري، هغوی هم ډېرې خبرې کوي خو د يوه خبره يې هم بل ته ورته نه وي، د دوی خويونه هم د عامو خلکو غوندې بد دي... پلار مې په دې څو مياشتو کې څو ډاکټرانو ته بيولی وم او څو ډوله دواګانې مې خوړلې وې. زه پوهېدلم چې زما درمل چېرې دي خو دا خبره مې له خولې نشوه وتلی. زما مخ زېړ شوی و، داسې لکه چې د هغې د زېړ حسن انعکاس پکې راڅرګند شوی وي، داسې لکه چې زموږ روحاني تړاو دومره ډېر شوی و چې ان د رنګ اثر يې هم زما په څېره کې ظاهر شوی و، که زه هغه وخت د اروا پر تناسخ او وحدت الوجود باندې پوهيدلی ښايي همدې ته عقيدتمن شوی وای، ښايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دين مې خراب شوی وای خو د خدای فضل و چې خپل دين او مذهب مې ساتلی و.

نن مې کلک هوډ کړی و چې دومره مزل به کوم تر څو د مور له سترګو پناه شم، خو کله مې چې د بوټانو مزي تړل نو مور ته مې وويل: که له سترګو دې پناه شم نو د زړه په سترګو راته ګوره، که د زړه له نظره دې پناه کړم نو داسې وګڼه چې هماغه شيبه نسکور يم! مور مې زما له تندي توده مچکه واخيسته او پر خدای يې وسپارلم. د غزلو زېړه کتابچه مې هم راسره اخيستې وه، چا راته ويلي وو چې نن په يوه زېړه ودانۍ کې مشاعره ده، ما کوښښ کاوه چې خواکمن شم، نن مې اجازه نه ورکوله چې نا اشنا منګولې مې پر ستوني ټينګې شي، سړک په واوره سپين پوښلی و خو د موټرو ټايرونو دوې تورې ليکې پکې ايستلې وې، زه يې پر ژۍ روان وم او له هر ګام سره مې واورو خرپ خرپ کول، سوړ باد مې لا هم پر باړخوګانو لګيدلو، زما د سينې له اور څخه راختونکی تاو مې نن په خپلو سترګو ليدلو.

دا ځل مې نا اشنا مخاطب د ورځې خيال ته راغلی و او راته ويل يې: اوس نسکوريږې... اوس نسکوريږې!

ما ورته وويل: تر څو مې چې د ټولو شاعرانو په مخکې د خپلې غټې سترګې هوسې په ياد کې ليکلی غزل نه وي زمزمه کړی دومره به اجازه ورنه کړم چې نسکور شم!

ناڅاپه به يې بيا راته وويل: اخ، د مور له سترګو پناه شوې!

ما ورته ويل: هغه راته نن د زړه په سترګو ګوري، زه يې احساسوم!

بيا يې راته وويل: لېونيه! يو پلاستيکي بوتل اوبه خو درسره واخله، که نسکوريدلو ته نېږدې شوې نو څو غوړپه څښه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خبرې يې زه تېر ايستلی وم، څلوېښت پنځوس گامه مخکې د خوراکي پلورنځي ته ورتاو شوم چې دوکاندار هلک يې د گاز ډبه بله کړې وه او وار په وار يې خپل کنگل شوي لاسونه ورته تاوول، اوبه مې ترې وغوښتلې، ښکته پورته يې وکتلم:

- په دې ژمي کې اوبه څښې؟

- هو!

موسکی شو، زه پوه شوم چې په زړه کې يې راپورې وخندل، ومې ويل:

- معده مې درد کوي

- اوه، الله دې شفا درکړي!

- منته

اوبه يې راکړې، پنځلس افغاني مې ورکړې او بېرته روان شوم، څومره عجب خلک دي، په هر څه کې کار لري او په اسانه تېرايستل کيږي، زه پوهيدم چې د دوکاندارانو عادتونه هم خراب شوي دي.

په نېږدې تمځای کې د موټر په تمه شوم، تور موټر چې د گونگټ په څېر ښکارېدلو ودريدلو، ورپورته شوم، روان شو، بيا ودريد او دوه کسه راوختل، بيا روان شو، بيا ودريدلو او يو کس راوخوت، څو ځله ودريدلو او روان شو، گونگټ دومره دروند شو چې کله به موټروان پښه پرې ټينگه کړه نو پغ پغ غږونه به ترې ختل، خو يو ځل بيا هم ودريدلو، ټولو شور جوړ کړ:

- نور ځای نشته! دا چېرته ځايوې! لږ شرم وکړه! مسلماني نشته!

ما غلي يو خوا بل خوا کتل، کلينډر غږ کړ: کرايه مو راکړئ!

لس افغانۍ مې ورته ونيولې، زه پوه شوم چې موټروان ته پر سړک هر ولاړ سړی يوازې لس افغانۍ ښکاري او د هر مساپر ارزښت ورته له لسو افغانيو نه دی پورته، ان د موټروانانو عادتونه هم خراب شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي زه ډېره موده وروسته چېرته لېږې روان وم، ځکه راته هر څوک خراب ښکارېدل، په ۱۰:۳۷دقیقو د زېږې ودانۍ مخکې ښکته شوم، پورته مې وکتل اسمان نيلي و.

ورننوتلم، شاعران کتار کتار ناست وو، داسې احساس مې کاوه لکه د صوفيانو خانقاه ته چې ننوتلی وم، دلته د زياترو رنګونه زېړ وو خو څېرې یې خندانې وې، د ځينو کوړتۍ اوږدې وې او د ځينو زړې خو زياترو يې د سر ويښتان غوړ کړي وو او په يوه بل لور يې اړولي وو، خو د اوبو بوتل يوازې زما په لاس کې و، په مخکنۍ کتار کې يې تر ټولو لوی شاعر ناست و، اوږده ږيره يې وه، د هغې نوم مې اوريدلی و او چې ورته ومې کتل نو د خانقا د پير په څېر و، ښه و چې هغه وخت پر تصوف نه پوهېدلم.

زه غلی په يوه ګوښه کې کېناستلم، نا اشنا مخاطب بيا غږ کړ: هسې نه چې د شعر ويلو پر مهال نسکور شې!

ومې ويل: د اوبو بوتل هلته هم راسره وړم!

د يوه يوه شاعر له کوړتيو شړيدلي کاغذونه راوتل او پر هغې د ليکل شوو غزلونو انګازې له شاوخوا دېوالونو سره لګيدلې، د لاسونو پړکېدلو توده مينه خپروله، احساس مې کړه چې وښکي مې غوړېږي او پر شونډو مې موسکا خورېږي.

زما وار رارسېدلی و، زړه مې ټوپونه وکړل او پښې مې لړزيدلې، د وينا د ميز مخې ته ودريدلم، د اوبو بوتل مې همالته کيښود، د هغې په ياد کې ليکل شوی غزل راته ياد و، ما وې هسې نه نسکور شم، فکر مې کاوه هر څه لړزېږي او زما د لويدلو کوښښ کوي خو سترګې مې پټې کړې، د لومړي ځل لپاره مې له ستوني چيغه ووتله، د غزل تورو ترنم کړ، زير و بم شو، ما وې چې رباب راسره غږېږي، په غوږونو کې مې د طبلې غږ کړنګا کوله، ما وې چې له غږ سره مې مرغان هم نغمې غږوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت مې سوچ شو چې غزل پای ته رسېدلی دی، د لاسونو پړکا مې تر غوږونو شوه، سترګې مې پرانیستلې، د پیر او مریدانو پر باړخوګانو اوښکې راڅڅېدلې وې او د زړونو له تله یې لاسونه پړکول، نن بیا هم زما سترګې شومې وې، ان دوه څاڅکي اوښکې یې هم نه وې پرېښې چې لږ تر لږه د ښو په سر مې ودرېږي، ما ټول دردولي وو، ما ښه نه وو کړي، ما خپل درد ټولو ته ورکړی و، دا ښه کار نه و، د شاعرانو پیر راپورته شو، زه یې ټینګ په غېږ کې ونیولم، د هغې د مینې تاوده مې احساس کړل.

دا ځل بیا هم ټولو ډېرې پوښتنې کولې:

- واه! دا څومره ښه غزل دې لیکلی و!

بل ویل:

- ته دا دومره موده ولې نه راتللې، ته چېرې وې؟

بل ویل:

- ستاسو نوم ما نه دی اورېدلی، له یاده مې ووت، نوم مو څه و؟

بل ویل:

- آها! څومره ښه، د شعرونو کتابچه دې هم درسره راوړې ده!

بل ویل:

- دومره ژور اغېز یې راباندې وکړ چې غوښتل مې کرېږې کړم!

بل ویل:

- دا غزل دې څنګه لیکلی و؟ کاشکې زه هم داسې غزل ولیکلی شم!

بل ویل:

- ته ادبیات لولې؟

هر یوه ته مې د شونډو په سرونو ځوابونه ورکول، نا اشنا مخاطب ویل: شاعران باید دومره پوښتنې ونه کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل: دوی له ما سره مينه کوي، ته تر ټولو هم زياتې خبرې کوې!
خو يوازې ما نه غوښتل خبرې وکړم، ما د زړه له تله خپل درد بيان کړی و، نن مې د ارامی احساس کاوه، غوښتل مې چې دوی مې يوازې پرېږدي او مودې وروسته له دې سکون څخه خوند واخلم.
مشاعره پای ته رسېدلې وه او ما د کور په لور گامونه اخيستل، په لاس کې مې د اوبو بوتل همداسې ډک پاتې و، له خولې مې لا هم تاو ختلو او ما لا هم احساسوله چې مور مې د کړکې خواته ناسته ده او د زړه په نظر راته گوري، ما فکر کاوه چې پر سر مې د خدای لاس دی څکه مور مې په خدای سپارلی وم. نن مې ځان نېکمرغه احساس کړی و، نن پر لاره زما د بوټانو او د تکو سپينو لارويو پېغلو بوټانو يو ډول خرپ خرپ کول.

*****

له يوه کاله ډېره موده وتلې وه، د کابل سره لمر به تندی سوځاوه خو چې کله به سيوري ته کېناستلې نو بيا به دومره گرمي نه وه، زما د خپل کلي نمجنه گرمه هوا نه وه هېره شوې، که لمر ته به هم گرځېدلو نو نرمه او نمجنه گرمي به وه او که د سنځلو سيوري ته به مو کتونه واچول هم نو هماغه ډول نمجنه گرمي به وه، د صحرا گرم باد به د خوږ له سرو تيږو سره سينه جنگولې وه او ترې راتېر شوی به و، بيا به يې زموږ ماشوم مخونه ښکلول، لومړی به گرم لگېدلو خو چې د تتر پر خولو لمدې جامې به يې لمس کړې نو وجود به يې نسبتا سوړ کړ، څکه خو به زموږ د کلي سپين ږيرو ويل چې پخوا به خلکو په اوړي کې گرمې شړې اغوستلې او دپاسه به يې کمربند نه ورباندې تړلو، نو کله به چې خولې شول بيا به يې پر وجود د صحرا تود باد ولگېدلو او د ساړه احساس به يې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا روژه وه او ماښام د جومات په ملا پسې تل جوخت دریدونکي سپینږیري چې په خوله کې یې یو غاښ هم نه و وویل: بیگا ته به تراوې کوو، قاري صاحب مو راغلی دی، په لسو ورځو کې ختم کوي، ډېر پیاوړی دی!

زموږ په کلي کې غټې تراوې نه کېدلې، ملا صاحب به چې ویل یې د ملایي سبق په نیمایي کې ترې پاتې شوی دی نو ځکه خو یې وړې تراوې راته کولې، ده به درې درې لنډ آیتونه په هر رکات کې لوستل او داسې سپېله به یې وهلو چې توبه، ځینې سپین ږیري به نشول پسې رسیدای، هغوی بیوزلان به لا سم ولاړ نه وو چې دی به د دویم رکات رکوع ته ټیټ شو. خو ما به د قوم د جامع جومات په لاسپیکر کې له لېرې د قران تلاوت اوریدلو، یو ماسخوتن مې له تره څخه چې د وړو تراوو په لوري روان وو پوښتلي وو: دا تلاوت خو تر نیمې شپې نه خلاصیږي، دا ولې؟

ده راته ویلي وو: دا غټې تراوې دي!

ما غوښتل یو ځل په غټو تراوو کې هم ودریږم او له لېرې راتلونکي د تلاوت کوونکي خوږ غږ له نېږدې واورم.

نن ماښام خوښ وم، ځکه زه به په غټو تراوو کې دریدلی او ان تر نیمې شپې به مې د قران ښایسته تلاوت اوریدلی.

قاري صاحب الله أکبر وویل او موږ هم ژر ژر لاسونه غوږونو ته واچول، ښایسته تلاوت پیل شو، جومات له سره تر بره ډک و، د قراني کلماتو زیر او بم د جومات په لر او بر کې خوریدل او ما خوند اخیستلو.

تلاوت ډېر اوږد شوی و، پښې مې ورو ورو سستې شوې، په یوه او بله شوم، تندی مې خولې کېدلو او وار په وار مې په ورغوي پاکولو، نا اشنا منگولې مې بیا پر ستوني ټینگیدلې، ډېرې بې شرمه وې ان د خدای له کلام څخه یې هم سترگې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرمېدې، د جومات سپینو روښانه ګروپونو مې سترګې برېښولې وې. فکر مې کاوه چې ړنګېږم...

له قاري سره دې خدای ښه وکړي الله أکبر یې وویل. رکوع ته ښکته شوو. خمکه راباندې وڅرخیدله. په سجده کې مې ورو ورو احساس کړه چې نا اشنا منګولې مې له ستوني لېرې کېږي، خو دوهم رکات هم همدومره اوږد پاتې و. قاري صاحب بیا د مریو په تارونو د قران مرۍ پېیلې، دا هار چې سر ته رسېدلی نو زما د زړه تنکي تارونه به ورسره شلیدلي وای، نا اشنا منګولو مې بې دریغه مرۍ خپه کولې. ښه پوهېدلم چې رنګ مې ورو ورو زېړېږي. په پښو کې مې سبک نه و پاتې. زړه مې بیا هم د ترهیدلې مرغۍ غوندې د سینې له پنجرې سره وزرونه جنګول.

شرمېدلم او نه مې غوښتل چې د لمونځ کوونکو د کتارونو مخکې دې بېرمخې راړنګ شم. خلکو خدای ته د عاجزۍ ټیټ سرونه نیولي وو او آرام ولاړ وو. ما مخ راوګرځاوه. لاسونو ته مې غیبي څواک راغی، صفونه مې څېرې کړل. پښې مې رېږدیدلې او تېریدلی شاته ووتلم. ما وې چې ګویا زړه مې تر خولې راووت. په زوره زوره مې سا اخیستله. د جومات د دروازې پر چوکاټ مې لاسونه تکیه کړل. لږه شیبه کېناستلم. داسې لکه په غشو ټپي غازي چې بې دمه سوټ بوټ کیني. په پښو کې مې لږه دمه راوغوړیدله. بېرته پورته شوم او په لړزېدلو ګامونو د کور په لور روان شوم. د جومات د دروازې د سر له روښانه ګروپ څخه ورو ورو لېرې کېدلم. کوڅه تیاره وه او هیڅ موټر هم نه ښکارېدلو. د تلاوت غږ هم تېېدلو او زه په پوړیو پورته ختلم.

*****

د هغې ورځې سهار یو څه زړه وړونکی و. بیګانۍ باران وریدلی و او کابل زموږ د پرخه وهلې کلي په څېر ښکارېدلو؛ په کلي کې به چې سهار مهال زموږ د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سپين ږيري چې مور ټولو بابا باله، په شنه خره کې اذان کاوه نو زما د غوږونو پردې به يې مهتزې کړې، سترګې به يې وزنګولې، سوړ او خوږ نم به مې سپږمو حس کړ، بانه به مې چې نيمکښ کړل نو د ستورو سپينې شغلې به دومره اوږدې شوې وې چې زما پر مخ به يې پستې ګوتې ايښې وې، خو چې کله به مې پوره سترګې پرانيستلې نو د سترګو په رپ کې به بېرته تر اسمانه وتښتيدلې. اسمان ډېر بختور و، دومره ډېر ځلانده غمي به يې هره شپه په خپله لمن کې تيت کړل، ما به چې کتل نو لويشت تش ځاى به هم پکې نه و، که کله به مې غوښتل چې لويشت ځاى پکې پيدا کړم نو لويشت به مې اسمان ته برابره کړه خو نيم اسمان به يې ونيولو، د حيرانتيا خبره وه او زه به وازه خوله پاتې شوم، آه ماشومتوبه!
سهار مهال به چې زمونږ په جومات کې بابا اذان وکړ او يوازې همده به لمونځ پکې کاوه، نور زياتره کليوال به لمرخاته ته نيږدې له خوبه پورته کېدل، ژر ژر به يې اودسونه وکړل او د چرګانو د ټونګو وهلو غوندې لمنځونه به يې کول.
زه به په کټ کې راکښناستم او چې په برستن به مې لاس ووهلو نو لمده به وه، زما مخ به هم نمجن و، مخامخ به زمونږ په کور کې د زردالانو، مڼو او الوچو ونې همداسې ويدې وې او تورې به ښکاريدلې، خداى شته کله کله به مې به تياره کې وېره ترې کېدله ځکه له ځانه به يې رنګارنګ ويروونکې څېرې راته انځورولې او زما زړه به وبوګنيدلو، ان د هغوى د کور د ونو سرونه به هم زمونږ له کوره ښکاريدل، وېرولم به يې، هغو به راته د ويروونکي ديو څېره انځوروله، د ونو څومره خوندوره لوبه وه! دوى به ويدې وې خو بيا به يې هم زما له ماشوم احساس سره لوبې کولې، زه ښه پوهېدلم چې دوى ته هم اسمان ټوله شپه اوبه ورشيندلي دي او ساړه يې شوى دى ځکه کله به چې رڼا شوه او زه به ورغلم نو له پاڼو به يې پرخه څڅيدله، خو وښو به خپل سرونه زما په پښو پورې مښل او پلاستيکي چپړکې به مې ښويې شوې چې دا به زما نه خوښيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېګا اوږده شپه تېره شوې وه، بیا هم سهار ته نېږدې ویده شوی وم او د لمرخاته ننداره هم راڅخه تېره شوې وه. پلار مې واسکټ اغوستی و او زما په تمه و چې سهارنی وخورم او روغتون ته مې بوزي. عجیبه وه، په دومره غټ ځان به مې چې مور او یا پلار تر څنګ نه وو نو له رمې د پاتې شوي ترهېدلي سپین وري په څېر به وم. ان له خپل سیوري هم وېرېدلم، خو چې دوی به مې تر څنګ وو نو زړه به مې ډاډه و او په مزه مزه به درزېدلو. تل مې دعا کوله چې خدای تعالی جل جلاله دې دوی زما له سره نه کموي. له پلار سره به چې بیرون ووتلم نو هر ګام به مې ترانې غږولې. روغتون د غره په ډډه کې و. پخوا مې اوریدلي وو چې په کابل کې د علي آباد په نوم د لیونیانو د ساتلو لپاره روغتون شته. ما به وې چې لیونیان هم ښه بېغمه دي. له دنیا او مافیها څخه ناخبره په خوندونو کې ډوب ژوند یې دی. د شاعر هغه مسره به رایه زړه کېدله چې وایي: خپل ځان لیونی کړه چې دې نور خلک غمخور شي!

زه څه پوهېدلم چې د لیوني دنیا له خومره توپانونو ډکه وي. د لیوني خیالونه هومره سرګردانه وي لکه څومره چې هغه په کوڅو او سړکونو کې سرګردانه ګرځي.. زمونږ د کلي یوه لیوني به ما ته ویل: ته ډېر ښه سړی یې. ته مې نه په عذابوې! دا نور ډېرې خبرې کوي، نارې وهي، راپورې خاندي. ته راته ووایه زه به ښه شم؟

ما به ورته وې: ته خو اوس هم ښه یې، نور هم ښه کیږې!

هغه مهال زه رښتیا هم هوښیار وم چې یوه لیوني ته مې داسې ویلي وو.

زما پر لیونیانو لا هم زړه سوځیدلو، نه پوهیدم چې زه لیونی شوی وم که څه بلا؟ خو ډاکټرانو تر اوسه نه وو راته ویلي چې لیونی یې. زما پلار هم راته ویلي وو چې روغ یې، یوازې ارام دې تللی دی! پلار مې ډېر هوښیار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غره په ډډه کې روغتون ته ولاړو، زه هغه وخت نه پوهېدلم چې دا هماغه د علي آباد روغتون دی کوم چې لیونیان پکې ساتل کېدل خو دا ټول کندوالي و، ویل کېدل چې دلته مستو لیونیانو جګړې کړې وې او روغتون یې وران کړی و نو اوس ټول لیونیان پر سړکونو سرګردان ګرځېدل، هغه ورځ ما پوښتنه کړې وه، په دې روغتون کې څه شی پېښ شوي وو؟

یو چا راته ویلي وو: ان دلته خو تنه ډاکټران هم وژل شوي وو...

خو هغه دوې کوټې او کوچنی انګړ نوې ابادي چې دلته شوې وه لا هم ډاکټران پکې کېناستل او لیونیان یې کتل، هغه ورځ مې هلته کوم داسې لیوني ونه لیدلو چې یا کریږې وکړي، یا یې جامې خیرنې وي او یا هم په زنځیرونو تړلي وي، خو هغه سپین ږیری مې لا هم په یاد دی چې په خمکه کرخت پروت و او نه شو خوځېدلی، درې زامن یې وارخطا پر چاپېر ناست وو او د نوبت په تمه وو. مور هم په نوبت ناست وو، پلار او ورور هم راسره وو، دومره مزه یې کوله لکه چې ټوله دنیا راسره وي، په هغه ورځ پوه شوم چې زما د ترهیدلې هوسۍ غټو سترګو او سرو باړخوګانو زه په ځان اخته کړی وم، داسې چې کله کله به د درد څړیکو زما په تصور کې د هغې تصویر تت کړ، هغه ورځ په زړه کې ګیله من شوم ما وې چې د هغې مینې د لیونیانو تر کاله راورسولم، که څه هم هغه لیونۍ نه وه خو بیا یې هم په لټه تر دې ځایه رارسېدلی وم، فکر کوم اشتباه مې وکړه، بښنه غواړم!

هغه رښتیا هم لیونۍ وه، هغه سارانۍ وه ځکه خو ما ترهیدلې هوسۍ بلله خو دا ادرس رښتیا هم غلط و چې زه یې په لټه کې دلته رارسېدلی وم.

زمونږ نوبت هم رارسېدلی و، ډاکټر چې سپینه چپنه یې اغوستې وه، ډبل او خندان ځوان و زما زېړ مخ ته یې وکتل، خو افسوس چې هغه شاعر نه و، زما په وریځو یې ګوته کېښوده او پورته یې کش کړه، یوه سترګه مې تېغه شوه، بیا یې د سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاندې گوته راته کېښوده، لاندې یې کش کړه او بیا مې هم سترګه ټپغه شوه، ویې ویل: ژبه وباسه!
ما ویل: آآآآآآآآآ
په ټېر ځړیدونکی ځیز چې خلک یې دوربین بولي پورتنی دوه خواوې یې په خپلو غوږونو کې ننباسلې او وروستی ګرده خوا یې زما په ټټر کېښوده، زړه مې درب درب کول، بیا یې وویل: ملا راواړوه!
یو ځل بیا یې دوربین په ملا راته کیښود، ویې ویل: ژوره سا اخله!
ما هم سینه ښه وپړسوله او بېرته مې خوشې کړه، فکر کوم هوا مې په سینه کې اور لا ژبغړاند کړ، دا ځل یې تاو زما تر خولې نه راوتلو، خو په دې ښه ډاډه وم چې ډاکټر یې دلمبو شور اوریدلی و، په دې هم پوهېدلم چې دی یې په دوا نه پوهیږي ځکه ما لیدل چې خپله بې وسي یې پر کاغذ باندې د څو پاکټه ګولیو په لیکلو کې پټوله.
پلار مې پر ډاکټر باور کړی و او دا امید یې په سترګو کې له ورایه ځلېدلو چې له دې څو پاکټه ګولیو سره به ښه شم، ډاکټر هم راته ویلي وو: ښه کېږې!
له کتنځي راووتلو، ځمکه لمده وه خو ختې مو پر څپلیو پورې ځکه نه وې نښتې چې ځمکه ختې نه وه، یو لیونی چې ډاکټر هغې ته هم زما په څېر په کاغذ باندې لیکل کړې وو او په لاس کې ورسره و ګوښې تشې روان و، ګامونه یې هم تېریدلې وو، په لنډه ږیره کې یې له تورو سپین ویښته ډېر و، ډنګر سړی و، زه پوه شوم چې د ده پلار مړ دی او مور یې هم نشته ځکه خو بې تکیې روان و، ما ته یې وویل: لاس مې ونیسه!
ما غوښتل لاس یې ونیسم خو زما لاس هم بل چا نیولی و، بیا هم یو چا پناه راوړې وه خو زما محل بیا هم ړنګ و او د هیچا د پناه وړ نه و، لیوني ویل: زما کور به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارالامان کې دی! یوه د ټکسي والا ته يې غږ کړ: زما کور په دارالامان کې دی ما هلته بوځه!

د ټکسي موټروان یوازې په بې رحمه سترګو ورته وکتل او ترې تېر شو، زه له اوله پوهېدلم چې د موټروانانو عادتونه خراب شوي دي، خو دا سړی لا په دې نه و پوهیدلی، ښايي چې کله دی روغ و هغه مهال د موټروانانو عادتونه هم ښه وي نو ځکه يې نن باور پرې کړی و، دا سړی مې هماغه څو شېبې لیدلی و خو بیا مې په شپه کې د نیلي سترګې نجلۍ د پلونو په څېر ونه لیدلو.

*****

انسانان ډېر ژر تېر ایستل کیږي، دوی تر ټولو زیات ځانونه تېرباسي ځکه چې ډېر ظاهر بین دي، په تاریخ کې ډېر کم انسانان پیدا شوي دي چې عمیق بصیرت لري او نظر يې باطن ته هم لاره پیدا کوي. څو پېړۍ پخوا باطنیانو هم هسې د باطنیت دعوه کوله خو دوی تر ټولو ډېر ظاهر بین وو او هیڅکله يې هم د متونو ریښتیني باطني ماناوې نه دي پیدا کړي، صوفیان هم رموز کاروي او فکر کوي چې باطن ته يې بصیرت رسیږي خو دوی هم ځانونه تېرباسي، د یار د ښایستو سترګو پر ځای د نرګس کلمه ویل نشي کولی انسان له ظاهر بینۍ څخه خلاص کړي، خو که نرګس ته ووایو چې لږ لږ د یار سترګو ته ورته دی نو بیا ښايي د عمیق بصیرت په لوري یو یو ګام واخیستل شي...

سپین ږیري په ځانګړي ډول فکر کوي چې ډېر هوښیار دي، د پخوانیو تجربو په اړه غړېږي او کله چې کوم نصیحت کوي نو د ږیرې په ویښتانو کې هم ګوتې وهي، کله چې څوک څو سجدې پورورۍ شوی وي او په جومات کې يې د ماښام له لمانځه وروسته ډېرته پور پرې کوي نو سپین ږیري وایي: دا ډېر ښه ځوان دی، بزرګ دی، د خدای دوست دی، ته ورته وګوره داسې نفلونه کوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ خو همدې ظاهر بینو ړنګه کړه. هغه ورځ یې زما د ماشومتوب ملګرې ویشتلې و، یوه تن چې برګه دریشي یې اغوستې او تور ټوپک یې تر غاړې و راته ویلي وو: د دوو دنګو غرو پر سرونو دوو ډلو انسانانو له تورو تیږو مورچې جوړې کړې وې، دوی زموږ په لور ډزې کولې او موږ د دوی په لور خو هغه زموږ ملګرې و!

یوه سوې مرمۍ راغلې وه او د دوو سترګو تر منځ په تندي یې لګېدلې وه، د کوپړۍ تر شا یې وتلې وه او ماغزه یې ورته شیندلي وو، پر شا لویدلی و نو ځکه یې ډېرې وینې د کوپړۍ له شا څخه تللې وې خو تندی یې هم په څو څاڅکو وینو ککړ و.

د برګې دریشي او تور ټوپک خاوند ویل: دوی ډېر ظالمان وو، پر موږ یې درنې مرمۍ ورولې!

زه هغه وخت پوهیدلی وم چې د غرونو په سر په مورچو کې ناستې دواړه ډلې ظاهربینې وې، دوی د خپلو ظاهري افکارو د لمانځنې په دود په ټوپکو سوې ډزې کولې، خدایزده دوی به پوهیدل او کنه خو زما ملګرې چې په کوچنۍ زړه مرمۍ لګیدلې و نو فکر یې هم له منځه تللی و، داسې ښکاریدلو لکه چې ویده وي، ظاهرا دې هم ارام ښکاریدلو، زه کله هم تندي ته په زړه ګولۍ نه وم لګیدلی نو ځکه مې د هغه احساس نشو درک کولی، لکه څرنګه مې چې پخوا د لیونیانو احساس نه شو درک کولی.

هغه وخت به زما د جورابو پوندې ژر څېرې کېدلې او یا هم ښایي ما ته داسې ښکاریدله ځکه هر کال مې پروسږنۍ جورابې اغوستلې، اوس هم چې د چا د جورابو څېرې پوندې ووینم نو هغه وختونه راپه زړه کیږي.

زما د کوچنیوالي ملګرې چې په کلي کې هیڅچا هم غېږې نشوې ورسره نیولی، دا څل یې له پښو دومره سیک ختلی و چې څلورو تنو په اوږو راوړ، دنیا څومره کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقله شوې ده، هغه یې د لرګي په یوه صندوق کې بندي کړی و، زه پوهېدلم چې د هغه د پښو سبک ختلی دی او نور هیڅېږې هم نشي تللی خو خدایزده دوی ولې دومره وېرېدل؟ هغه یې په ۱۰:۳۷دقیقو د کور په وره ننویستلو، مور یې کړیکې کړې او ویل یې: زویه شهادت دې مبارک شه!

خویندو یې ساندې ویلې او له دې سره د کلي ټولو ښځو هم کریږې او نارې جوړې کړې، دې کریږو یې په سرونو کې دومره زورور توپانونه جوړ کړي وو چې د سترګو له سمندرونو څخه یې څپې د ټولو د ښو له غاړو را اوښتلې او د باړخوګانو پر زېړو او سرو غونډیو ختلې.

د ژړا سیالي پیل شوې وه، لکه برګ اتڼ د کلي څوانان هم پرې ورګډ شوي وو او د ساندو له لمبو یې د اسمان وریځې تښتېدلې.

زه ردې سترګې حیران ولاړ وم، زما د ماشومتوب ملګری به له نن ورځې وروسته نور هیڅا هم په کلي کې نه وای لیدلی، د شور او زوږ په دې لالهانده میدان کې لا وختي نا اشنا منګولې زما د زړه تر کوډلې رارسېدلې وې، شېبه په شېبه یې په نازک زړه زور راته کاوه، په سر کې مې اورنی توپان را الوتی و، که هغه مهال کوم نجومي زما تر څنګ ولاړ وای نو زما په حال به نه وای پوهیدلی، کیدای شي چې هغې هم بغارې وهلای، خو که چېرې هلته کوم شاعر ولاړ وای نو اعتراف به یې کړی وای چې زما په سر کې الوتی توپان هلته د کریږو وهونکو ټولو خلکو څخه ویروونکی و، شاعران هم تل مبالغه کوي نو څکه خو ما هم له شاعر سره دا خبره نه منله څکه چې هغه ورځ زما د ماشومتوب د ملګري د مور په سر کې الوتی توپان له ما څخه هم ویروونکی او ویجاړوونکی و.

هغه صندوق چې زما د ماشومتوب ملګری یې پکې بندي کړی و په درې رنګه بیرغ پوښلی و، په سر یې وربانده توره پرده غوړولې وه چې د کعبې د پردې په څېر یې د قران آیتونه پرې لیکلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما په سر کې د الوتي توپان اورنيو څپو غوښتل چې زما لاندني بانه وسوځوي، د کنګل غونډې ويلې شي، اوبه شي او د باړخوګانو په څړو غونډيو مې وخيږي خو زما د شومو سترګو بندونه دومره پاخه شوي وو چې د هيڅ توپان او سيلاو څپې پرې نشوې را اوښتی. حيرانوونکې وه، نن چې بايد ما ژړلي وای نه مې شول ژړلی، نا اشنا منګولې مې دومره پر زړه تينګې شوې وې چې ويې لړزولم او شا ته مې دوه درې ګامه واخيستل نو ځکه خو د شا پر تخته نسکور هم نشوم...

هغه ورځ زه پوهېدلم چې زما د ماشومتوب د ملګرې د کور له نيلي دروازې سره ولاړې د مرګ ملايکې پر ما زړه سوځيدلی و، زه پوهېدلم چې هغې نا اشنا ظالمې منګولې ليدلې وې چې زما پر زړه يې زور کاوه، هغې زما دا حال هم ليدلی و چې نېردې وه د زړه وينې په خوله واچوم خو د سترګو اوښکې مې زما د ماشومتوب ملګرې په خبر د نا اشنا لرګيو په صندوق کې بندې وې.

د ماتم په هغه ځنګل کې زما ترهيدلې هوسی هم هيڅ نه ليدل کېدله. ښايي د هغې په ليدلو د نا اشنا ظالمو منګولو زمری وېرېدلی وای، لړزيدلی وای او شاته يې دوه درې ګامه اخيستي وای.

هغه ورځ زه هديرې ته تللی وم، له ختيځه را الوتي باد يې جنډې په زوره زوره لړزولې، يا يې هم ښايي خپل نوي مېلمه ته محفل جوړ کړی و او په ميدان کې يې له يوې بلې سره د نڅا سيالي کوله، زما د کوچنيوالي ملګرې يې په هماغه صندوق کې بندې په مړيستانه کې کېښود، د برګو دريشيو خاوندانو چې دې بې په هماغه صندوق کې راوړې و ښايي فکر کاوه چې نور به هغه هيڅکله هم له هغه صندوق څخه راونه وځي خو زه پوهېدلم چې نن شپه به ملايکې زرين تېرونه راوړي او هغه صندوق به مات کړي، سپينې حورې به راشي او د سرو شرابو جام به زما د ملګرې پر شونډو کيږدي، دې به يې غړک غړک وڅښي او د سر له شاتني پرهر څخه به يې ونه وځي، د کلي ځوانانو چټک چټک بېلونه جګ نيږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول او چغ چغ غږونه یې ختل، مړیستانه ته درنې خاورې توییدلې خو هغو خاورو چې نه یې غوښتل په مړیستانه کې بندي شي د باد غېږې ته یې ځانونه ورکول او هغې هم د کعبې په لورې تښتولې.
زه داسې ولاړ وم لکه د هدیرې د جنډو لکړه خو په سر مې هیڅ جنډه هم نه وه، له ختیځه را الوتي باد زه نشوم خوځولی، ځینو کسانو راته په حیرانۍ کتل، ما د هغو ځوانانو خړ مخونه لیدل چې د مړیستانه تښتیدونکې خاورې پرې نښتې وې، زما په سر کې د الوتي توپان اورنۍ څپې اوبه شوې وې، د بڼو له دېوالونو سره جنګیدلې خو په سینه کې یې د ننه لورې ته لاره کړې وه.
خلک تللي وو، زه ولاړ وم او زما د ماشومتوب د ملګري ورور چې په ډنګر مخ کې یې هډوکي له ورایه ښکارېدل د هغه پر مړیستانه نیلي جنډه ولګوله، جنډې د غرنۍ کوترې غوندې وزرونه خلاص کړل، رپ رپ غاړه یې پیل کړه، او کوښښ یې کاوه چې د کعبې په لورې ولاړه شي خو لکه په لومه کې نښتې مرغۍ یې پښې په لکړه پورې ګنډل شوې وې.
هغه ورځ زما پام شو چې نور نشم ژړلی، د ژړا پانګه مې تمامه شوې وه او دا ځل زه له اوښکو بېوزله شوی وم چې بیا مې تر ننه ونه شول ژړلی، زه د داسې چا په لټه کې یم چې څو اوښکې په پور راکړي.

*****

کلي ته به تللم خو په سترګو کې مې دومره قوت نه و پاتې چې زما د ترهیدلې غټې سترګې هوسۍ مخ ته وګورم، د هغوی کور ته ورشم او د لمرخاته وروسته نقل پر مهال نیمکښې سترګې ورپورته کړم، چې کله سلام اړوي نو سترګې یې زما په سترګو ولګیږي، داسې ښکارېدله چې زما ظاهري سترګې وژل شوي دي او د زړه سترګې مې پرانیستل کیږي، په کابل کې هم نور لمر نه راباندې غوسه کېدلو او چې کله به هم د سهار ۱۰:۳۷ دقیقې وې نو په ډېره مهربانۍ به راباندې ځلېدلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نورو خلکو به شکایت کاوه چې د کابل لمر ظالم دی ځکه وړانګې یې د سرې په سر نېغې ننوځي، چاپېریال پوهانو به وخت ناوخت رسنیزې غونډې جوړولې او اعلانونه به یې کول چې د کابل لمر ځکه ظالم دی چې په ښار کې د خلکو تراکم زیات شوی دی، د کلونو زاړه موټر پکې چلیږي چې لوګي یې هوا ته پورته کیږي او د هوا دفاعي طبقه یې خرابه کړې ده!

ما په دوی باندې باور ځکه نه کاوه چې د ظهیر الدین محمد بابر شاه خبره مې په یاد وه چې ویلې یې وو: په کابل کې له ږمستنې پرته خوب نه کیږي، کابل د دنیا پر مخ له هر ځایه ښایسته دی، زه به یې هیڅکله هم خپلو زامنو ته ورنکړم!...

ده رښتیا ویلې وو ځکه ما کله هم په کابل کې له ږمستنې پرته خوب نشو کولی، خو له بابر سره زما یو توپیر دا و چې ما په ږمستن کې هم د هغه په څېر خوب نشو کولی!

زه به کله کله پر کابل د دې مئېن پاچا مړیستانه ته ورتلم، داسې مې احساسوله چې د هغه د ظالمو هډوکو د سینې په قفس کې یې زړه د کابل خاورې لا هم ژوندی ساتلی دی، درزیږي او له سکون ښونکې طبعیت څخه یې خوند اخلي، زه هم پر کابل مئېن وم خو کابل زما سکون وړی و، زه داسې وم لکه د مور په غېږه کې چې ماشوم ناروغ شي، ما احساسوله چې کابل راته د مور غونډې خپه دی او تل غواړي چې پخپله غېږه کې سکون راکړي، خو زما سکون د ترهېدلې هوسۍ په ښکرو کې و او کوم شی چې د ترهبدلې هوسۍ ښکرو ته په ګوتو ورشي نو د هغې ترلاسه کول یوه نه حل کیدونکې معما شي.

ما دا تولې خبرې له دې مړه شاعر پاچا سره کولې کوم چې له شرابو یې توبه ویستلې وه خو د اپینو غوټې به یې خوړلې، ما د هغه احساس ښه درک کولی شو چې کله به یې اپین خوړلي وو او مازدیګر مهال به یې د هند په اګره کې په کښتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چکر واهه او د هغه ځای نمجن طبیعت به یې ننداره کاوه. څکه د اپینو غوټیو به د هغه د سر د کاسې سترګې ړندې او باطني سترګې به یې ورته خلاصې کړې.
زه د زاهدانو غوندې وم، هیڅکله مې هم شراب نه وو څښلي خو ما د داسې اپینو غوټې خوړلې وې چې ټینګې مې په زړه پورې نښتې وې. زما د سر په کاسه کې سترګې یې ورو ورو ړندې کړې وې. لکه څرنګه چې د سپین ږیرو سترګې ورو ورو ړندیږي خو زما د باطن سترګې یې دومره په زور پرانیستلې وې چې ان د خپل تصور تصویرونه یې هم ښه روښانه لیدل. ما به چې ځان ته په هغو سترګو کتل نو خدایږو کله کله به مې له ځانه څکه وېره وشوه چې نور زه هغه پخوانی زه نه وم. زه ډېر بدل شوی وم. زما رنګ لا زیړ شوی و. لا نری شوی وم. زما لاسونه او خبرې لړزېدل. زما د شعرونو فریادونه بل ډول شوي وو. ان زما لیکل هم بدل شوي وو. هر څه ورځ تر بلې په بله اوښتل. ورځ تر بلې مې ظاهري دنیا د باطن له سترګو پناه کېدله. د تصور دنیا ته ورننوتلم چې ښایي د حقیقي دنیا په لوري یو پل و. لکه څرنګه چې صوفیان داسې خبرې کوي. خو زما هغه وخت تصوف نه و زده. هر څه بدلیدل خو ما خپل دین او مذهب ساتلی و. په سجده کې لا هم هماغه پخوانی خوند پروت و.
کله به چې ما د مسیحیانو د ارواوو او یا وینو څښونکو موجوداتو فلمونه لیدل نو چې هلته به یو ښایسته ځوان په اروایي بلا او یا هم وینې څښونکي موجود بدل شو. زما به پام شو چې زه هم په یوه بل څه بدلیدونکی یم. یا به داسې شم چې د غرونو او درو به شم او یا به داسې شم چې د خلکو وینې به وڅښم! خو چې دا وروستی فکر به مې سر ته راغی نو له خدایه به مې پناه وغوښته. ما ته د خلکو د وینو له څښلو څخه دا په ځلونو غوره وه چې د غرونو لیونی او د سارا سارانی شم. بېر سر شم او درویشی شم. عجیبه ده هغه وخت زما طبیعت د تصوف په لوري ډېر تمایل کړی و. که هغه وخت زه پر تصوف پوهیدلی نو ښایي ما د چوپتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې شرنګيدلي صوفي مکتب رامنځته کړی وای چې د نړۍ ليونيان به ورته رامات وای... خو ما خپل مذهب ساتلی و.

زه له کوچنيوالي همداسي يم: هوايي!

هغه وخت به مې که کله د مارانو لپاره د هندي موسيقۍ سندرې اوريدلې نو فکر به مې کاوه چې زه به هم په مار بدل شم، له سترګو به مې اور وريږي او له خولې به مې فشش فششش غږ خيږي.

اوس زه چوپ وم، داسې په خيالونو کې ډوبيدم لکه بودا، د هغه په څېر له خپل ژونده بېزاره کېدلم، ما غوښتل د ژوند حقيقت پيدا کړم خو زه نه د کومې ونې لاندې کېناستلی وم او نه هم د کوم سيند پر غاړه تر څو د حقيقت پرښته راته ظاهره شي او په يوه شپه کې هر څه راته ووايي. ما خپل دين او مذهب ساتلی و، زه پوهېدلم چې په همدې کې حقيقت راته بيان شوی دی خو د دې حقيقت سپړلو ښايي د بودا غوندې ذهن غوښتلو، پر دې حقيقت د پوهيدلو لپاره مې بايد ظاهري سترګې ربښتيا هم ړندې شوې وای او د زړه سترګې مې پرانيستل شوې وای، ښايي زه اوس د حيقيقت پېژندلو ته نېږدې شوی وم، خو د زړه پر سترګو له ليد سره داسې نابلده وم لکه ماشوم چې د لومړي ځل لپاره ګامونه اخلي، تلولې شي، ولويږي او بېرته په خواريو د راپورته کېدلو کوښښ کوي.

پخوانی ژوند او يادونه اوس راته د يوه خوب په څېر تصوير کېدل، داسې چې د پخوانيو دوستانو څېرې مې سمې نه په ياديدلې، ان د کلي د جومات تصوير مې هم په ذهن کې داسې تت شوی و لکه خوک چې په خوب کې پيغمبر او يا پرښته ويني نو سهار چې راپورته شي د هغه تصوير يې سم نه په ياديږي. تر دې چې په کلي کې د ښوونځي د دوستانو نومونه هم راڅخه هېر وو، داسې راته ښکارېدله لکه چې زما پخوانی ژوند سلګونه کلونه پخوا تېر شوی وي، داسې ښکارېدله چې زه نهه دباندې درې سوه کلونه ويده شوی وم، زه د کهف د صحابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ملګری شوی وم خو توپیر مو دومره و چې نهه دباندې درې سوه کلونه د دوی سترګې پټې وې او بیا یې هم هر څه په یاد وو خو زه په غړیدلو سترګو په یوه ورځ کې کلونه کلونه ویده شوی وم او د هر کال ویدېدلو په بدل کې مې پخواني ارزښتمن یادونه هېریدل.

زما ظاهري سترګې چې ړندې شوې وې نو د زړه سترګې مې شرمیدونکې وې، داسې لکه دوې ښښتنې پیغلې چې له کوره دباندې راووځي، زیارت ته روانې شي او پر مخونو یې پردې خورې وي، همداسې زما د زړه سترګو هم پر ځان نرۍ پرده خوره کړې وه څکه خو راته دنیا له یوې نرۍ پردې دباندې ښکارېدله، د ماشومتوب په څېر مې هر څه روښانه نه لیدل، ان د مور څېره مې هم له یوې نرۍ پردې دباندې لیدله، کټ مټ لکه په خوب کې د پرېښتې په څېر خو له هغې یو څه روښانه.

په مني کې به چې کله د ونو وچې او زېړې پاڼې په پارکونو کې رالویدلې وې او ما به په بوټانو وهلې نو د شغ شغ او خرپ خرپ غږ یې ما ښه اوریدلی شو خو د هغوی شاوخوا ته شیندل مې هم له نرۍ پردې دباندې لیدل، داسې لکه ماشومان چې د غوړیدلو ګلانو له سرونو د زېړو پتنګانو سیل پسې واخلي او یوه د نیلي جامو پیغله یې د کړکۍ له نرۍ پردې ننداره کوي.

په خیالونو کې مې د تصویرونو په البومونو خاورې پنډې شوې وې خو یوازې یو تصویر چې ما به تل ورته کتل همداسې تازه پاتې و، ان مروړل شوی هم نه و، هسې هم د خیال کمال همدا وي چې تصویرونه نه مروړي.

زه له ظاهري دنیا دومره لېرې شوی وم چې که چا به راسره جګړه کوله نو چوپ به وم، بیا به ولاړم، ځانته به کېناستم او په خیال کې به مې له هغه شخص سره جګړه وکړه، دومره خبرې او ملامتیا به مې پرې ووېله چې ایله به مې زړه سوړ شو، وښکي به مې وغوړېدل او د بریا احساس به مې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ترهیدلې هوسۍ داسې چم راباندې کړی و چې د چم ګاونډ له ښې ښادۍ یې ویستلی وم.

په کوچنیوالي کې مې یوه لنډۍ اوریدلې وه چې د وروستۍ مسرې وروستۍ برخه یې داسې ده: سودایي به شې مئینه! هغه وخت ما فکر کاوه چې دا به هغه سوداګر ښیي کوم چې کلي ته راځي او سودا یې په شا اړولې وي خو زه اوس د سودایي په مانا پوهیدلی وم، ځکه ما احساس کړې وه چې سودایي شوی یم.

*****

هر کال به چې څومره د مني په ونو خپلې پاڼې زیړیدلې تر هغې زیات به زما رنګ زیړ شوی و، د زیړې ښکلا په مریدۍ کې دومره ډوب شوی وم چې د ژمي د سهار د ۳۷:۱۰دقیقو له لمر او د اوړي د مازدیګر د شپړو بجو له لمر څخه هم زیات زیړ وم، دومره زیړ شوی وم چې پر زیړ لمر مئین شفق هم نیږدې نه راتللو. هغه مني چې لا نور هم زیړ او زیبښلی شوم نو ان زیړو ګلونو هم نشول کولی چې له خپل ډنډوغرو سرونه راهسک کړي او خپله زیړه ښکلا تماشې ته وړاندې کړي، په بازار کې به پیغلو یوې بلې ته ویل:هغه ته وګوره! تک زیړ! په جومات کې به سپین ږیرو ویل: د ده زیړی دی!

کله چې دا خبرې د کلي هغو ماشومانو چې تازه یې لمنځونه نیولي وو او په جومات کې به په ملا پسې ښکته پورته غورځېدل زما د مور تر غوږونو ورسولې نو په اندېښنه لاس تر زنې شوه، یو چا ورته وویل چې د اندرابۍ په کوځه کې یو پاړوګر د زیړي دم کوي، په سبا یې هلته بوتلم. د پاړوګر یوه سترګه تکه سپینه اوښتې وه، پخپل زاړه، ختین او په لوګو تور دوکان کې ناست و. پاس یې په رپونو د چمبو غوندې شیان ایښي وو، د نصواري جامو یوه کوچنې هلک چې خپل لستوڼي یې په پوزه راکش کړ ویې ویل: په دې کې یې پخوا ماران ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يوه سترګه ړانده پاړوګر په کوچنۍ نکلي کاسه کې له زاړه منګي د شړشمو تېل راوايستل، تر څنګ له انبار شوو شنو وښو يې لږ څه راواخيستل. نکلي کاسه يې زما سپېړمو ته نېږدې ونيوله او واښه يې پکې تاو راتاو کړل. د تېلو سوړ بوی وخوت او د شنو وښو بوی ورسره ګډ شو، بې خونده و.

پاړوګر راته ناپوهه وايسيدلو، ان خپل ماران هم ترې تښتيدلي وو. هلته هر څه بدرنګ وو خو يوازې دوه شيان ښايسته وو؛ د قران هغه ټکي چې پاړوګر په وار وار ويل او زما تر څنګ ناسته اندېښمنه مور.

د کابل د سيند تر څنګ چې يوازې د يوې ويالې اوبه پکې بهيدلې او شاخوا يې دنګ واښه ولاړ وو د زېړ جومات مناري تر اسمانه دنګې وې. د هغې تر څنګ د نيلي زيارت مخې ته په شمار لس يوولس مکرجن ملنګان ناست وو چې غټې غټې تسبې يې غاړو ته اچولې وې او په سترګو کې يې سلايي دومره کش کړي وو چې تر کونجونو يې د رانجو لکۍ وتلې وې.

د غره په ډډه کې د ختلي دېوال په سرونو کوچني کوچني سړي ښکارېدل چې اخوا ديخوا ګرځېدل. کله چې د ګونګټ غونډې په تور موټر کې سپاره شوو نو کلينډر يې وويل: د دېوال په سر هغه کوچني سړي فراريان دي چې په چاقوګانو يې خلک په پسته خېټه کې وهلي دي او په توپانچو يې خلک ويشتلي دي نو ځکه خو اوس د سپاهيانو له ويرې لاندې نشي راښکته کېدلی. له ګونګټ څخه يوه ښکته کيدونکي سړي ويل: د سپاهيانو په پښو کې دمه نشته. دوی غرونو ته نشي ختلی، د ټوپکو تورې شپېلۍ يې تل سړې وي.

دوه اونۍ وروسته زه پوهېدلم چې د شړشمو له تيلو په ډکه کاسه کې خوځيدونکي واښه زېړ شوي دي خو زما رنګ همداسې زېړ پاتې و. دارو بې اثره شوي وو او د طبيبانو دروغجنې خبرې رسوا شوې وې. له هغې وروسته به هر طبيب خپله خوله او پوزه پټول ځکه چې خلکو ته يې خپل مخونه نشول ښودلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ترهیدلې هوسۍ داسې چم راباندې کړی و چې د چم ګاونډ له ښې ښادۍ بې ویستلی وم.
په کوچنیوالي کې مې یوه لنډۍ اوریدلې وه چې د وروستۍ مسرې وروستۍ برخه یې داسې ده: سودایي به شې مئینه! هغه وخت ما فکر کاوه چې دا به هغه سوداګر ښيي کوم چې کلي ته راځي او سودا يې په شا اړولې وي خو زه اوس د سودایي په مانا پوهیدلی وم، ځکه ما احساس کړې وه چې سودايي شوی یم.

*****

هر کال به چې څومره د منې په ونو خپلې پاڼې زېړېدلې تر هغې زیات به زما رنګ زېړ شوی و، د زېړې ښکلا په مرېدی کې دومره ډوب شوی وم چې د ژمي د سهار د ۱۰:۳۷دقیقو له لمر او د اوړي د مازدیګر د شېږو بجو له لمر څخه هم زیات زېړ وم، دومره زېړ شوی وم چې پر زېړ لمر مئېن شفق هم نېږدې نه راتللو.
هغه منې چې لا نور هم زېړ او زېښلی شوم نو ان زېړو ګلونو هم نشول کولی چې له خپل ډنډوغرو سرونه راهسک کړي او خپله زېږه ښکلا تماشې ته وړاندې کړي، په بازار کې به پېغلو یوې بلې ته ویل:هغه ته وګوره! تک زېړ! په جومات کې به سپین ږیرو ویل: د ده زېړی دی!
کله چې دا خبرې د کلي هغو ماشومانو چې تازه یې لمنځونه نیولي وو او په جومات کې به په ملا پسې ښکته پورته غورځېدل زما د مور تر غوږونو ورسولې نو په اندېښنه لاس تر زنې شوه، یو چا ورته وویل چې د اندرابۍ په کوڅه کې یو پاړوګر د زېړي دم کوي، په سبا یې هلته بوتلم، د پاړوګر یوه سترګه تکه سپینه اوښتې وه، پخپل زاړه، ختین او په لوګو تور دوکان کې ناست و، پاس یې په رېونو د چمبو غونډې شیان ایښي وو، د نصواري جامو یوه کوچنې هلک چې خپل لستوڼي یې په پوزه راکش کړ ویې ویل: په دې کې یې پخوا ماران ساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يوه سترګه ړانده پاړوګر په کوچنۍ نکلي کاسه کې له زاړه منګي د شړشمو تېل راوايستل، تر څنګ له انبار شوو شنو وښو يې لږ څه راواخيستل، نکلي کاسه يې زما سپېړمو ته نېږدې ونيوله او واښه يې پکې تاو راتاو کړل، د تېلو سوړ بوی وخوت او د شنو وښو بوی ورسره ګډ شو، بې خونده و.

پاړوګر راته ناپوهه وايسيدلو، ان خپل ماران هم ترې تښتيدلي وو، هلته هر څه بدرنګ وو خو يوازې دوه شيان ښايسته وو؛ د قران هغه ټکي چې پاړوګر په وار وار ويل او زما تر څنګ ناسته اندېښمنه مور.

د کابل د سيند تر څنګ چې يوازې د يوې ويالې اوبه پکې بهيدلې او شاخوا يې دنګ واښه ولاړ وو د زېړ جومات منارې تر اسمانه دنګې وې، د هغې تر څنګ د نيلي زيارت مخې ته په شمار لس يوولس مکرجن ملنګان ناست وو چې غټې غټې تسبې يې غاړو ته اچولې وې او په سترګو کې يې سلايي دومره کش کړي وو چې تر کونجونو يې د رانجو لکۍ وتلې وې.

د غره په ډډه کې د ختلي دېوال په سرونو کوچني کوچني سرې ښکارېدل چې اخوا ديخوا ګرځېدل. کله چې د ګونګټ غوندې په تور موټر کې سپاره شوو نو کلينډر يې وويل: د دېوال په سر هغه کوچني سرې فراريان دي چې په چاقوګانو يې خلک په پسته خيټه کې وهلي دي او په توپانچو يې خلک ويشتلي دي نو څکه خو اوس د سپاهيانو له ويرې لاندې نشي راښکته کېدلی، له ګونګټ څخه يوه ښکته کيدونکي سړي ويل: د سپاهيانو په پښو کې دمه نشته، دوی غرونو ته نشي ختلی، د ټوپکو تورې شپيلی يې تل سړې وي.

دوه اونۍ وروسته زه پوهېدلم چې د شړشمو له تيلو په ډکه کاسه کې خوځيدونکي واښه زېړ شوي دي خو زما رنګ همداسې زېړ پاتې و، دارو بې اثره شوي وو او د طبيبانو دروغجنې خبرې رسوا شوې وې، له هغې وروسته به هر طبيب خپله خوله او پوزه پټول څکه چې خلکو ته يې خپل مخونه نشول ښودلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو خلک لا هم ساده ګان وو او د ډاکټرانو پر هغو کاغذونو یې باور کاوه چې د خپلې بې وسی اظهار به یې په خو کرښو کې د دوه درې پاکټه ګولیو او یو شربت په لیکلو کولو، خو زه اوس هوښیار شوی وم، زه په رموزو پوهېدلم او زما د باطن سترګې خلاصې شوې وې، زما ظاهري دوکه کیدونکی نظر چې پر زړه ښایست دوکه شوی و، د ترهیدلې هوسی په ښکرو کې له نظره پناه شوی و، زه نور نه دوکه کېدلم نو ځکه خو طبیبانو هم نشول کولی چې ما دوکه کړي.

زه پوهېدلم چې زما زړی نه و، خو نه مې شول کولی مور ته مې داسې ووایم، ځکه که هغه زما په اصلي راز خبره شوې وای نو ښایي زړه یې دریدلی وای او که د هغې زړه دریدلی وای نو هماغه دم به زه هم نسکور شوی او دم ختلی وای، ځکه چې هغه مهال به هم کړکی تشه وای او هم به د هغې د زړه سترګې پټې شوې وای، ان دومره څوک به هم نه وای چې زما له تندي د مینې توده مچکه واخلي، په سر لاس راته تېر کړي او ووایي: په خدای مې سپارلی یې.

په هغو ورځو کې د خیالاتو دومره زوروور هجوم راباندې راغلی و لکه په سپرلي کې د شنو کوترو سیلونه، خو کوم ښکاري نه و چې د ټوپک ډزې یې پرې کړي وای.

پخوا چې زه په کلي کې وم نو کله به چې د ژمي سړو شپو وروستی سلګی وهلې او دښتو به د سپرلي ګلونه زېږول ناڅاپه به د غرونو په سرونو داسې واورې وشوې لکه کوم ماته خوړلی لښکر چې خپل وروستی ځواک راټول کړي او په پوره زور د شپې پرمهال وروستي شواخون راوړي، دې ناڅاپي حملې به د غره شنې کوترې کلیو او د غنمو پټیو ته راماتې کړې، د سپرلي یخو څاڅکو به د ځمکې تېر نمجن کړی و چې شنې کوترې به پرې ښکته کېدلې او پورته کېدلې، د کلیوالو دوه نلیزو چره دارو ټوپکو به وار په وار خولې اسمانونو ته پورته کولې او ټنګ خړپ به بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل و. خلکو به ویل چې د شنو کوترو په سیلونو کې پېریان هم سمې ته راښکته کېږي نو ځکه خو به د چره دارو په ډزو یو نیم پیری هم لګېدلو.
یا هم زما د خیالاتو شور او هجوم داسې و لکه د سمندر پر غاړه د ګړنګ په تیاره غار باندې چې ماښام مهال د ماښام ځکالي بیروبار جوړ کړي چې ان د سرې سترګې ورسره تورې شي، د خیالونو دا اوږده لړی راته بې مانا ښکاربدله داسې لکه د ګډوډو خوبونو بې مانا لړی، هغه وخت زه نه پوهېدلم چې ممکنه ده د خیالاتو په دې توپان کې الماسک هم وي، هغه وخت به مې زیاتره د سترګو کونجونو اوښکې کولې او د سوي احساس به یې کاوه، نه مې شول کولی چې چا ته نېغ وګورم، هسې خو هم ما خپل ظاهري لید له لاسه ورکړی و خو غوښتل مې چې سترګې مې سرې شي، غوښتل مې هغه همت پیدا کړم چې که کلي ته ولاړ شم نو خپلې ترهیدلې هوسۍ ته د لمر خاته له نفل ځخه د سلام ګرځولو پر مهال یو ځل بیا هم وګورم خو ایا دا کار ما کولی شو؟ ایا دا زما له وسه پوره و؟ هغه وخت زه ډېر ځواکمن وم چې ما به هر سهار کولی شول هغې ته وګورم خو اوس به مې بانه تل درانه وو، ما غوښتل چې په ساړه ژمې کې سترګو ته سرې اوبه واچوم، خو ناځاپه به ظالم نا اشنا مخاطب حاضر شو او وبه یې ویل: داسې مه کوه! هسې نه سترګې دې دومره یخې شي چې د یخ ګاټې ترې جوړې شي، سپین او تور یې سره ګډ شي او کاږه واږه ترکونه پکې وشي. ایا دا ممکنه وه چې له سترګو دې د کنګل ګاټې جوړې شي؟ ما لیدلي وو چې کله به مو په کلي کې د لوی اختر لپاره له کلیوالو سره په شریکه غویی واخیستلو او قرباني به شو نو سر به یې په غټ دېګ کې په اور باندې شو خو چې کله به پوخ شو د غويي سترګې به لا هم رډې رډې ختلې، یوازې به یې پر مخ یوه خړه پرده راغلې وه، خو زه پوهیدم چې زما او د غويي سترګې توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله خو اوس هم فکر وکړم چې کيداى شي زموږ د ژوند پيښې او يادونه په دښته کې د اوښانو د ورک کاروان په څېر په نامالوم لوري روان وي، ما ته خو دا سوچ راځي، لکه څنګه چې هغه پيښې لا هم زما په خيال کې ژوندۍ دي نو کيداى شي د اسمان په نامالومو منزلونو کې هم همداسې ژوندۍ وي او زما مساپره اروا هماغسې درد ګالي. ښايي موږ هم د شعرونو غوندې وو چې خپل غمونه مو تل په سر وي او هيڅکله يې هم له سره نه غورځوو خو توپير يې يوازې دومره دى چې موږ د هماغې شپې سره د تل لپاره د اسمان د نامالومو منزلونو په لوري روانيږو. ما فکر کاوه چې زموږ پرون په پرون کې لا هم نن دى، لا يې هم هره شپېه پر خپل ځاى ولاړه ده داسې لکه چې نه پناه کيدونکې وي خو يوازې د اسمان نامالوم منزلونه يې زموږ له سترګو پناه کوي.

هغه ورځ لا هم شته چې د غره د دډې د دېوال په ښکتني دډ کې غځيدلي سړک باندې د ګونګټ غوندې موټر روان و، موږ يې په خپله خېټه کې د څه وخت لپاره ساتلي وو او غوښتل يې چې له يوه منزل مزل وروسته مو بېرته له خيټې راوباسي، دا بدرنګ ګونګټيان تل غواړي د يونس عليه السلام د کب په څېر پيښې وکړي، دوى او له ريا ډک هغه زاهدان کټ مټ سره ورته دي چې د نبيانو غوندې د پرهېزګارۍ پيښې کوي، خلک هم ورباندې تېروتلي دي او هغوى چې رښتيا هم د زهد او تقوا خاوندان دي د دوى په تورو سيورو کې د خلکو له ناپوهه سترګو پناه دي. زه ان هغه وخت پوهېدلم چې د رياکارو زاهدانو خويونه هم خراب دي. خو زما مور هم فکر کاوه چې دوى د پرېښتو په څېر دي او څکه د پرېښتو په څېر اسمان ته نه الوځي چې غواړي د خداى د مخلوق خدمت وکړي.

هغه ورځ چې موږ د ګونګټ له خيټې رابهر شوو نو د سرپټو زړو کوڅو له منځه تېر شوو، د لرګي خړې دروازې ته ودريدلو. لړزانده لاس مې وړاندې کړ، په دروازه راځړيدلى زنځير مې ونيولو او درې څلور ځلې مې وشرنګاوه، کوچنى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم چې نیلي خولۍ یې په سر وه راووت، سترګې یې راپورته او خوله یې جینګه کړه، زه او مور مې دواړه په وره دننه شوو، د سرو خښتو کوټو ته لا پلستر نه و ورکړل شوی خو چې کله یې دالان ته ننوتلو نو پر پلستر سربېره یې زېړچک رنګ هم ورکړی و، ماشوم یوې کوټې ته بوتلو، په سره قالینه سرې توشکې چاپېره هوارې وې، یو دنګ سړی چې اوږده تکه سپینه ږیره یې وه او سپین پټکی یې په سر کړی و ناست و او تسبې یې اړولې.

زما د مور هیله منو سترګو پوه کړی و چې مور څه غواړو، زه پوهېدلم چې دا سړی د پرېښتې غوندې پرهېزګار نه دی، ما یې هغه کرغېړن تور سیوری لیدلو چې له ما سره د لیونۍ مینې له امله مې د مور له سترګو پناه و، سړي قلم راواخیست او د ډاکټرانو په خبر یې د خپلې بې وسۍ اقرار پرې لیکلو، خو توپیر یې یوازې دومره و چې څو پاکټه ګولۍ یې نه راکولې، بلکه یوازې یې کاغذ تاو راتاو کړ او ویې ویل: دا تاویذ په اوو شنو جامو کې تاو کړئ، د څرمنې پوښ ته یې واچوئ او د دې هلک په ښي مټ یې راوځړوئ!

د مور په سترګو کې مې د هغې له زړه راټوکېدلی د هیله منو غوټیو انځور د هغې په اوبلنو سترګو کې ولیدلو، هغه وخت په هغه تصویر کې دومره ډوب شوم چې ما دا هم ونه لیدل چې هغې ریاکار او د دنیا د مال بندي ملا ته یې څه دباندې پنځه زره د افغانیو سره نوټونه مخې ته کېښودل. ښه وه چې هغه انځور مې په تصور کې نه و پاتې کنه د هغه بدرنګ سیوري د خاوند مکارې موسکا به مې د ذهن د تابلوګانو ندارتون بدرنګه کړی وای.

اوس نو راته بل بار هم زیات شوی و؛ د ګډوډو خیالونو، پرېشانه فکرونو او دلي غمونو تر څنګ ضرور وه چې په اوو شنو جامو او د څرمنې په پوښ کې تاو شوی تاویذ هم پر مټ وګرځوم.

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلک وايي چې ليونيان بې درده او بې درکه دي، دوی ځانونه هوښياران بولي خو له دې نه دي خبر چې ليونيان له ډېر هوښياری ليوني شوي دي، البته يو شرط شته؛ هغه دا چې که هوښيارتيا د زړه د سترګو له خلاصيدلو سره مله وي او يا هم له دې سره مله وي چې دنيا له نورو څخه په څرګند توپير وليدلی شي. زه په رښتيا هم ليونی شوی وم څکه چې ليوني ته مې هوښيار ويل او بله دا چې که ليونی هوښيار شي او زه ليونی نو زه هم هوښيار شوم او څوک چې ځان هوښيار بولي نو هغه هم ليونی شو. دا خبره به زموږ د کلي په جوماتت کې هغه مهال سپينږيرو کوله چې روژه به په ژمي کې راتله او ټول کليوال به د جومات له ګردې بخارۍ راتاو وو. زما تره به ما ته ويل چې دا بخاري له تا څخه مشره ده نو څکه خو به زنګونه هم پرې نښتي وو. زما سره پوښتنه پيدا شوې وه چې زنګ ولې په اوسپنه پورې نښلي خو چې کله په ښوونځي کې وم نو يوه ورځ زموږ د ساينس ښوونکي وويل: اوسپنه هغه وخت زنګ نيسي چې لمده شي، دغې خبرې د دې پر ځای چې ډاډ راکړې لا يې هم حيران کړم څکه اوبه هم کولی شي چې يو څيز خيرن کړي! آه څومره دوه مخې دنيا ده، موږ چې خيرن شو نو په اوبو ځانونه مينځو چې پاک شو خو چې پاکې اوسپنې ته اوبه ورسيږي نو زنګ ونيسي او خيرنه شي؟

دنيا ټوله له داسې معماوو ډکه وه خو چې کله زما د ظاهر سترګې د ترهيدلې هوسۍ د زېړ حسن شغلو ړندې کړې او د زړه سترګې مې ورو ورو خلاصې شوې نو دا معماوې لا هم راته ډېرې شوې، څکه چې ما دنيا د خلکو په سترګو نه ليدله، ما هغه څه ليدل چې خلکو نه ليدل او ما هغه څه نه ليدل چې خلکو ليدل! خو هغه وخت هم زه ليونی وم څکه ما له خلکو ګيله کوله چې ولې زما پر خوږو او دردونو نه دي خبر؟ ولې ما ته ډاډينه نه راکوي؟ ولې زما په غم کې ځانونه نه شريکوي؟ يوازې يو څوک وو چې زما د درد احساس يې کولی شو. هغه هم زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور وه خو ما غوښتل چې ټول خلک دې زما د مور غوندې ما ته ډاډینه راکړي، هغه وخت زما خویونه رښتیا هم ماشومانو ته ورته شوي وو، زه ښه پوهېدلم چې د بازار دخلکو خویونه هم خراب شوي دي، خو بیا مې هم غوښتل چې ما ته مینه راکړي او دا په رښتیا هم ځرګند لیونتوب و، د ښار د خلکو زړونه پر هغه بوډۍ هم نه سوځیدل چې د کابل ښار په ده افغانانو کې به د زېرزمینیو په زینه کې ناسته وه، مخې ته به یې خولۍ غوړولې وه او له ښاریانو یې غوښتل چې په خولۍ کې یې د وچې ډوډۍ اخیستلو لپاره د افغانیو نوټونه واچوي، هغه وخت به چې دا بوډۍ ما لیدله نو فکر به مې کاوه چې زما نیا په داسې له بې وسۍ او بېوزلۍ ډکه حالت کې ناسته ده، که زما د نیا ویښتان مو یو څه جړ کړي وای او جامې یې خیرنې شوې وای نو د هماغې بوډۍ د خور په څېر به ښکارېدلې وای، ان زموږ د ګاونډۍ نیلي سترګې نجلۍ نیا هم همداسې ښکارېدله او زموږ بلاک ته د مخامخ خیرنو لاسونو والا دوکاندار نیا هم همداسې وه، ښایي هغه وخت زما عواطفو دومره طغیان کړی و چې د نړۍ ټولې بوډۍ د زېرزمینیو پر زینو د ناستې بوډۍ غوندې راته ښکارېدلې. ما فکر کاوه چې د ټولو ښاریانو عواطفو په ما کې حلول کړی دی او دوی ټول ترې بې برخې شوي دي، ما فکر کاوه چې د ټولو زړونو نرموالی زما زړه ته راګډ شوی دی او د نورو زړونه کلک شوي دي، داسې لکه د ختو نانځکې چې وچې کلکې شي. لکه څرنګه چې د ختو نانځکې بدرنګې وي او سپېرې خاورې یې له مخونو بادیږي همداسې د ښاریانو زړونه هم سپېره وو او له مخونو یې خاورې بادیدلې، دومره سپېره چې ان د زېرزمینیو د زینو پر سر له ناستې سپین سرې ښځه چې خولۍ یې د دوی په پښو کې غوړولې وه هسک سرونه تېریدل، ښایي د دوی په سرونو کې د کومې لویې فتحې نشه ګرځېدله خو ما لیدل چې دوی ټولو ماته خوړلې وه، دوی سخته ماته خوړلې وه او د ژوند په سرګردان ډګر کې یې د عاطفې له سپرو په نامالوم لوري لاالهانده

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډې وهلې نو څکه خو دوی نه هغه بوډۍ ليدله، نه يې د هغې څولۍ او نه يې هم زما احساسات او عواطف درک کولی شول، دوی زما د غټې سترګې هوسۍ سره يو شباهت درلود؛ هغه دا چې دوی هم په نامالوم لوري منډې وهلې او هغې هم، خو توپير يې دا و چې سپين سرې سوالګرې له دوی څخه کرکه کوله. له دوی څخه يې ګيله کېدله او د هر يوه پر تېريدلو يې د زړه نازک محل داسې ورانيدلو لکه زلزله چې د نړۍ هسکې ماڼۍ ورانې کړي خو ما له خپلې هوسۍ سره مينه کړې وه او د هغې هر ياد زما د ژوند ستنې لړزولې وې، د هغې د عشق بوټي زما د زړه وينې غوښتلې او ما په همدې وينو ودان ساتلی و. د سپين سرې بوډۍ د نهيلۍ تصوير به ما د زرنګار په پارک کې د ودان جومات له تصوير سره يو ځای د خپل شعور ژورو ته لېږلو، زه او بوډۍ سوالګره ډېر سره ورته وو، د هغې غرور لوټل شوی و او زما هوښ! د هغې له شرمېدونکو کتلو سره د څو افغانيو د غوښتنې غږ به په ورځ کې څو ځله د جومات له اذان سره يو ځای د اسمانونو په لور پورته کېدلو، زه وېرېدلم چې خدای به دا غږ واوري، دنيا به په بل مخ واړوي او هر څه به نسکور کړي! خو داسې نه وه خدای نه د ښاريانو په څېر و، نه د موټروانانو او نه هم د دوکاندارانو... ان د کليوالو په څېر هم نه و، خدای يو بېل ذات و، زه پوهېدلم چې دا غږ يې اوريدلو، د هغه د عرش ستنې يې لړزولې او کولی يې شول چې د غضب سمندر يې په خوښ راشي خو د خپلو بې پروا، مغرورو او خرابو خويونو خاوندانو بنده ګانو پر حال يې رحم کاوه، دا رښتيا هم خدايي حوصله وه!

ضرور خدای د دوی ماته خوړلی حال ليدلو چې د ژوند پر ډګر د سپېڅلو عواطفو د لښکرو څخه په هره خوا تښتيدل او د دوی په حال يې رحم کړی و.

خو زما حال له ټولې دنيا سره توپير درلود، دې حالت لا درد راکاوه، کله به مې چې په هېنداره کې ځان ته وکتل نو رنګ مې له زېړيدلو د توريدلو په لور روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



و او د سترګو کونجونه مې ګونځې شوي وو، زه پوهیدلی وم چې په کمو ورځو کې د کلونو مزل کوم او د کلیوالو ښځو له حساب سره مې اختلاف کړی دی، د دوی په حساب زه د دنیا د نورو وګړو غوندې وم خو زما د سترګو کونجونو ښودله چې د دوی حساب غلط دی، ما له دنیا څخه دومره بغاوت کړی و چې د حساب علم مې پوره غلط ورته ثابت کړی و! اوس نو اړتیا وه چې زما لپاره د میاشتو او کلونو بېل حساب کتاب رامنځته شي، خو هیڅوک تر اوسه په دې نه وو پوهیدلي، ما هم نه غوښتل چې څوک پرې پوه شي ځکه فلسفیان خو تر اوسه د طبیعت په رازونو کې د کوچنیو معماوو حل ته نه وو رسېدلي نو بیا به یې زما دې بغاوت ته څرنګه د حل لاره پیدا کولی؟ ځکه خو یې ما د ځان لپاره د حل لنډه لاره پیدا کړې وه هغه دا چې کله به د هنداري تر مخ تېریدلم نو مخ به مې بل لوري ته اړولو او کوښښ مې کاوه چې ځان د دنیا د نورو خلکو په حساب محاسبه کړم، خو دا ښکاره بې انصافي وه، ډېره لویه بې انصافي. ما ته د زېړ حسن غټې سترګې هوسی څه څه نه وو راپېښ کړي؟ پر ما ډېره لویه کانه شوې وه، داسې کانه چې مرګ یې پر وړاندې ډېر کوچنی و، ما به په ځینو فلمونو کې لیدل چې د فلم د نجلۍ او یا هلک زړه ته به غم ورسېدلو نو له ژونده به زړه توری شو، په پای کې به یې لنډه فیصله وکړه؛ له ژوند سره دښمني او خپل ژوند ته خاتمه ورکول! ما ته د هغوی په دغه ډرامه خندا راتله، کله کله خو به مې د خندا غړ پورته شو، دومره به پورته شو چې د خاموشې شپې د چوپتیا ګوهر به یې دړې وړې کړ او زما د کوټې د کړکۍ هاخوا ته ویده روږدې پیشو به له خوبه راویښه شوه او په تیاره کې به یې په شنو ځلیدونکو سترګو زما په لوري کتل. ما مرګ له دې ډېر ښکته بللو چې زما د معما حل دې شي، مرګ داسې پدیده نه وه چې ما وژغورلی شي، زه اوس په یوه بې پایه سمندر کې لاالهانده وم او لاس پښې مې وهل خو زه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدلم چې زما سیک به له ما سره ترڅو ملګرتیا وکړي او زه په دې هم نه پوهېدلم چې دا بې سره او بې پایه سمندر کوم ساحل هم لري او کنه؟
هغه وخت به ما ته د خوږې مور هغه سبقونه رایادیدل چې په ماشومتوب کې یې راته ویلي وو، د دې هره خبره یو سبق و چې ما اوریدلي وو، د هېرې شراب مې ورکړي وو او د تحت الشعور په تیارو خاګانو کې مې اچولي وو.
زه له کوچنیتوبه همداسې یم، هوایي!
زما د دردونو زلزلو د تحت الشعور د خاګانو کمرونه نړولي وو او له شوره یې د هغو ویدو سبقونو څخه د یوه یوه نشه تنبتیدله او د اوریلکو په څېر مې د تصور پر تیاره افق ځلېدل او هغه تابلوګانې یې انځورولې چې د وخت په ششنیدونکو آسونو سپرو څواکونو یې ریښتیني تجسمونه لوټلي وو، او ښایي د کایناتو په دښته کې یې په نامالومو منزلونو کې پراوونه اچول.
کله چې زما رنګ د زېړ حسن په لمبو تور اوښتی او وریتیدلو نو د مور هغه راکړی سبق مې یاد شو چې یو ماښام یې راته پر لویدیځ افق دوه ستوري ښودلي وو او ویل یې چې دا لیلا او مجنون دي، دوی سپېڅلې مینه کړې وه او خدای ترې دوه روښانه ستوري جوړ کړل!
خو کله چې ښوونځي ته ولاړم نو ښوونکي وویل چې ستوري او سپوږمی په فضا کې لالهانده دي او د یوه نامالوم منزل په لوري روان دي!
دې سبقونو زه اوس په دې باوري کړی وم چې هغه ستوري په ریښتیا هم لیلا او مجنون دي او فضا هم هغه بې سره او بې پایه سمندر دی چې زه پکې سرګردانه لاس او پښې وهم، ښایي زه هم د غټ سترګې هوسی سپېڅلی عاشق وم او خدای راڅخه د اسمان ستوری جوړ کړی وي، زه اوس پوهېدلم چې د ستورو ژوند څومره له لالهاندۍ او دردونو ډک دی، آه! په ټولو کایناتو کې هیڅ ارام نه و!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هغه مهال د سکون په لټه کې وم، د داسې سکون په لټه کې چې هر ډول شور خاموش کړي، ځکه خو مې اړتیا درلوده چې ویې لټوم خو ښایي زه تر اوسه هغې درجې ته نه وم رسېدلی، که هغه وخت له کوم صوفي سره مخ شوی وای نو ممکنه ده د سکون لاره یې راته ښودلې وای خو چې زه اوس پرتلنه کوم نو د مولوي د سماع ډګر زما د عواطفو د ډګر په منځ کې داسې ښکارېدلو لکه زما د زېړ حسن غټ سترګې هوسی پر مخ د رنجو خال، له همدې امله خو مې هغه مهال د فزیکدانانو دا نظریه منلې وه چې ویل یې ادیبان دروغجن دي او په خپلو خوږو خبرو خلک تېرباسي ځکه چې د مادې د ظاهري ځانګړنو له مخې دا نه ده ممکنه چې سمندر دې په پیاله کې ځای کړل شي. دا څومره لوی ثبوت و، ما غوښتل چې پخپله کوټه کې د انشتاین ببرسری انځور وځړوم، خو ما داسې ونه کړل ځکه زما لپاره ښایې د انشتاین انځور کوم مفهوم نه درلود. خو یوازې یو انځور و چې زما لپاره یې ډېره ژوره مانا درلودله او د ژوند د کوټې پر ټولو دېوالونو مې راځړېدلو. یا مې هم شاید ځکه د انشتاین انځور د کوټې پر دېوال نه و ځړولی چې د ملا صاحب هغې خبرې وېرولی وم چې ویل یې د تصویرونو ویستل ناروا دي او دوزخ ته د تللو سبب کېدلی شي، ده ویل چې د دوزخ اور له نورو ټولو اورونو ډېر تاوجن دی، ما چې د خپل زړه له اخیستي اوره دومره کړاو ګاللی و نو ځنګه مې کولی شول چې له دې هم سخت اور ته زړه ښه کړم، هغه هم د یوه ببر سري بوډا د تصویر لپاره چې په غټو بریتونو کې یې پاسنی شونډه نه ښکارېدله. ما هغه وخت هم خپل مذهب ساتلی و او له سجدو مې هماغسې خوند اخیست لکه څرنګه چې په کلي کې و.

*****

هغه مهال چې په کلي کې وم او سهار مهال به مې د نفل څخه په سلام اړولو هغه لیدله نو د خوندونو بازار به ولګیدلو او دومره ارزاني به یې وه چې د ټولې دنیا خوندونه به ما د سترګو د دوو سکو په دیدن واخیستل، په هغو ورځو کې ما هم د زهد په لور مخه کړې وه او له ملایکو سره مې پخه ملګرتیا وه تر دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅکله هم د سجدو پوروړی نه وم او د دومره سجدو خاوند وم چې احساسوله
مې په جنتونو کې مې لویه پاچاهي ده.
فکر کوم د ماشومتوب پاچاهي به هم د جنتونو د پاچاهی به شان وي، آه
ماشومتوب، د ماشومتوب ملګرتیا څومره سپېڅلې وي. زما هغه وختونه هم
یادېږي چې زه به غټ سترګې هوسی ته مخامخ ناست وم، هغې به خوږې کیسې
کولې او زه به ورته غوږ وم، په ماشومتوب کې به یې ډېرې کیسې کولې خو چې
کله پېغلوټې شوه او د حیا څادر یې په سر خور شو نو بیا به یې ما یوازې د سهار
نقل لیدلو او د هغې د خوږو کیسو شکرې به ډېرې په ندرت وریدلې. هغه وخت
زما زړه داسې و لکه د للمې خمکه چې د عشق سپیلني پکې له تندې وچ شوي
او زېړ اوښتي وي خو کله به چې د هغې خوږې شونډې ورپیدې او د تاندو مریو
تارونه به یې وخوځېدل نو زما د سینې اسمان به کړهار ګډ کړ او د خوندونو تونډ
باران به ووریدلو چې د خواږه احساس باد به زما د زړه د للمې په تتر کې نوې
تېونه جوړ کړل او د عشق نورو تنکیو سپیلنیو به سرونه راهسک کړل...
په هغه کال بیا هم په کابل کې د غره د ډډې د دېوال سر واورې سپین کړی و خو
تور ډډونه یې لا هم په دې اند وو چې د دنیا په دې بدلبدونکي ماحول کې به لا
هم وچلېږي او د توپانونو پر وړاندې به دنګ ودرېږي خو دا دېوال هم د زمانې
د ظاهر بیني سره ظاهر بین شوی و، څکه چې اوس د توپانونو لوری بدل شوی
و او داسې توپانونه راتلل چې که دېوالونه تر اسمانه هم دنګ شوي وای بیا بې
هم مخه نشوه نیولی، واورې هم غوښتل چې د غره د ډډې دېوال ته دا سبق ورزده
کړي خو دېوال خپله پخوانی سرکشي ساتلې وه او هغه یادونه یې لا هم په زړه
کې تازه وو چې تر شا به یې کابل شاهانو پناه اخیستله.
دا ژمی د نورو په پرتله ډېر سوړ و، خلک حیران وو او د دومره ساړه په سبب نه
پوهیدل، وهم پرستو به ویل چې دا ساړه له څان سره ښه زېري نه لري او بد خبرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې راوړي دي خو هيڅ ته هم پته نه وه چې دا بد خبرونه کوم وو، ښايي دوی ته څکه هغه ساړه د بد زيري راوړونکې ښکاريدلو چې به خوبونو کې د تورو لوګيو بد تعبير ته قايل وو، فکر کوم دوی د اسمايي غره ته ختلي وو او د کابل ښار د کورونو له بامونو يې راوتونکي تور لوګي ليدل چې د اسمان په لور يې الوت کاوه او داسې ښکاريدله چې تا به وې تورو ښامارانو وزرونه کړي دي. زما په فکر خلکو کوښښ کاوه چې ځانونو ته د راهبانو القاب ورکړي نو ځکه خو د تورو لوګيو د تماشې لپاره د اسمايي غره ته ختل، دوی ځکه نه وژل کېدل چې په ژمي کې د اسمايي او شېر دروازې د غرونو په سرونو هغه فراري مجرمان د ډېر ساړه له امله نشول ګرځېدلی، دوی په کورونو کې ځانونه زنداني کړي وو او توپانچې يې د غره د ډډې د ختينو کورونو په لرګينو تاخچو کې ايښې وې چې هغه کال حکومت تازه په زېړو او شنو رنګونو لړلي وو.

حکومت هم ډېر ظاهر بين و او بايد ظاهر بين هم وای ځکه چې ولس يې هم ظاهر بين و، دوی کورونه ځکه په زېړو او شنو رنګونو لړلي وو چې له لېرې ښايسته ښکاره شي خو د هغو کورونو له دننه حال څخه نه وو خبر؛ دوی ته دا پته نه وه چې د ورې مياشتې په پيل کې چې کله نرې نرې باران پيل شي نو بامونه به بې وڅڅيږي.

ډيری راهبان په دې اند دي چې د باطن علم ډېر مهم دی نو ځکه خو يې د ترلاسه کولو لپاره غرونو او ځنګلونو ته ځي، دوی څومره ناپوهان دي، دوی فکر کوي چې د بصيرت علم د غرونو او ځنګلونو په وچو ډبرو او دنګو ونو کې دی، خو داسې نه ده، پرېښتې تر هر چا ښې پوهيږي چې د بصيرت علم د انسانانو په مخونو کې پروت دی نو ځکه خو تل د انسانانو پر چاپېر تاويږي، خو د راهبانو له دې دومره ناپوهۍ سره هم د دوی دا خبره منم او سلامي ورته کوم لکه چې هغې ژمي په يوه سړه ورځ د تور ګونګټ په خيټه کې د غټې خيټې والا ناست سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پر سړک ولاړو د ترافیکو مامورانو سلامي ووهله! دې تصویر ما ته خوند راکړی و نو ځکه خو مې هماغه وخت د تور گونگټې د بدرنگۍسره سره د تصور پر تابلو کښلی و.

عجیبه دا ده چې ما نورو ته ناپوهان ویل خو ما پخپله فکر کاوه چې زه هم ډېر ناپوه یم، زه ډېر ساده او کم عقل یم، ان کله کله به چې د خپل خان ناپوهی ته غوسه شوم او د آینې له مخې به تېرېدلم نو سترگې به مې پټولې، له ځانه به مې دومره کرکه وشوه چې نه مې غوښتل خپل مخ وگورم او د سترگو کونجونو ته مې ځیر شم.

هغې لیونۍ داسې ډاکه راباندې اچولې وه چې هر څه یې راڅخه لوټ کړي وو خو یوازې دوه څیزونه یې راته پرېښي وو: ساه اخیستل او بېرته ساه ویستل!

کله به د خیالونو هجوم دومره راباندې زورور شو چې تصویرونه به یې له یو بل سره وجنگېدل او دړې وړې به شول، ما به داسې احساس کاوه چې کوم ارزښتمن څیز مې ورک کړی دی او ناکراره به مې په لټون پیل وکړ.

زما وار دومره خطا شوی و چې په بازار کې د ټولو خلکو رنگونه راته الوتي ښکارېدل، زما سینه دومره دردېدلې وه چې کله به مې هم کوم بوډا جوالي ته وکتل نو دا مې انگېرله چې د هغه زړه هم له سلو غمونو ډک دی، چې کله به د نایي دوکان ته ولاړم او ویښتان به یې راته جوړول نو داسې مې انگېرله چې زما ویښتان یې نور هم راته خراب کړل، زه په دې اند وم چې نه هم کوم نایي راته سم ویښتان جوړولی شي او نه هم کوم خیاط راته سمې جامې گنډلی شي. زه نه پوهېدلم چې د لیونتوب تر وروستي حده رسېدلی وم او که د بصیرت پر وروستي حد مې پړاو اچولی و!

زه نه پوهېدلم ځکه چې زه رښتیا هم ناپوهه وم.

زه پوهېدم چې زه ښه لیکل نشم کولی او نه هم ښه شاعر یم، زما احساس دردېدلی و، هغې زلزلې چې زما د ژوند له خوندونو ډک ښار یې ولړزاوه زما د کلماتو زرینې ماڼۍ یې هم ونړولې ځکه خو اوس زما قلم په دې ماڼیو کې د کلماتو په لټون و او هره کلمه به یې چې پیدا کړه نو د نیلي غمي په څېر یې په خپله څولۍ کې اچوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*****

نور نو د ایرو هغه بت ته ورته وم چې د نړۍ شمال یوه څپه یې له ځانه سره وړلې شي، دومره بې سبکه شوی وم چې که پورته به شوم نو پښې مې رېږدېدلې، هره شپه به مې باڼه یو له بله مرور وو، د شپې په چوپتیا کې به مې یوازې دوه شیان اورېدل: د سپو غپا او د دېوالي ساعت ټک ټک!

هغه میاشت چې په باغونو کې تازه د ګلونو غوټۍ ګل کېدلې او د کابل واورې ویلې شوې وې، مور مې په سر کې په ګڼ ګڼلې پنځه سپین ویښتان پیدا کړل، په دې ورځ په ټک پوهه شوه چې نور هر څه تر وروستي حده رسېدلي دي، هغې هم باید خپله وروستۍ فیصله کړې وای، نور نو زما د زړه په راز هم خبره شوې وه او په دې پوهېدلې وه چې له غټ سترګې هوسۍ سره زما د ژوند تړون ناممکن دی ځکه چېرته سارایي هوسۍ او چېرته د کلي لېونۍ!

په بل سهار بیا د کلي په لور روان شوو، دا ځل نه په غرونو کې پخوانۍ خوند و، نه د سړک په راڼدېدلو او شاته تښتېدلو کې او نه هم په درو کې د زېړو ګلانو. ما ته دا ټول درېدلي ښکارېدل، زما مور هغه ورځ د عیسی علیه السلام د مور مریم په څېر ښکارېدله ځکه چې تر خولې یې یو توری هم نه وتلو او ما فکر کاوه چې د خدای په امر یې د چوپتیا روژه نیولې ده، خو زه ځکه مسیح ته نه وم ورته چې زما شونډې هم ګنډلې وې، ان د ټکسي د موټروان او سپرلیو تر خولو هم سوڼ نه ختلو. خو ما یو ښایسته تصویر بیا لیدلی و او زما د تصور بوډا انځورګر په خپلو لړزېدلو لاسونو د حافظې پر تابلو ترسیماوه، هر سپین ورۍ یې په ډېر پام پورته غره ته په ختلې نرۍ لاره د ختلو په حال کې انځور کړی و.

مور مې بیا هم زموږ له کلي په خوږ پورې د سپینې ږېرې خاوند تاوېذګر ته له خپلې سهیلې سره ورغلې وه، هغې یو ځل بیا هم ورته د خپلې بې وسۍ خط ورکړی و خو دا ځل یې داسې ورته ویلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا تاویذ به په اوو سرو جامو کې وګنډي، د څرمنې په پوښ کې به يې بند کړې او په هديره کې به يې د دوو پخوانيو قبرونو تر منځ ښخ کړې.
کله چې د مازديګر لمر له ښيترو او څېړيو د دنګ غره تر شا غرغره کېدلو، مور مې پر چاقو د دوو زړو قبرونو تر منځ کوچنی قبر کيندلو او کوچنی تاويذ يې پکې دفن کاوه...
خو زه پوهېدلم چې که کلونه وروسته د تاريخي اثارو کوم څېړونکی دا ځای وکيندي نو د دوو تنو د هډوکو ترمنځ به هماغه تاويذ پيدا کړي او دا جمله به پکې ولولي: د سارايي هوسی له ښکرو د کلي د ليوني زړه بېرته رواړئ!
زه پوهېدلم؛ هغې تاويذګر چې زما مور بيا هم د پرېښتې ګومان ورباندې کړی و شيطانانو ته يې امر کاوه چې زما زړه بېرته راوړي خو په شيطان کې دومره زور نه و چې زما شهيد زړه ته ورنېږدې شي، ځکه چې خدای ورته په ګڼ ګڼلي پنځه ملايکې په پهره داري درولې وې...
بيا مې هم تل په تصور کې د هغې تصوير ته کتل او د زړه په ژبه مې د هغې نوم اخيستلو، نور نه پوهېدلم چې ولې خو د هغې تصوير ښايسته و او د هغې نوم هم ښايسته و.
هغه هوسی همداسې سارايي وه او هيڅکله هم زما نه شوه، پر ما هر څه تېر شول خو اوس هم د ژوند په مانا نه پوهېږم.
سارايي هوسی ته غاړه ورکول ښايي يوازې زما تمنا پاتې شوه...
ما دا هر څه وليکل، خراب مې وليکل، ښه مې ونه ليکلی شول، ځکه چې زه ناروغ يم!

پـای

(c) ketabton.com: The Digital Library

... دا مهال زه چوپ وم، داسې په خیالونو کې ډوبېدم لکه بودا، د هغه په څېر له خپل ژونده بېزاره کېدلم، ما غوښتل د ژوند حقیقت پیدا کړم خو زه نه د کومې ونې لاندې ناست وم او نه هم د کوم سیند پر غاړه تر څو د حقیقت پرېښته راته ښکاره شي او په یوه شپه کې هر څه راته ووایي...

بیه
۷۰ ؋

Aksos

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**